# قضاء

۱۱

شرعي

قضائي

حقوقي






**د افغانستان اسلامي امارت**

**د سترې محکمې درې میاشتنۍ مجله**

څلورم کال، یوولسمه گڼه ( ربیع الآخر، جمادی الأولی او جمادی الآخرة ) ۱٤٤۷ هـ ق/ ۱٤۰٤ هـ ش

د تأسیس کال ۱۳۰۹ هـ ش

# قضاء

شرعي- قضائي - حقوقي
د افغانستان اسلامي امارت د ستري
محکمي دري مياشتنۍ مجله

څلورم کال

یوولسمه ګڼه ( ربیع الآخر، جمادی الأولی او جمادی الآخرة ) ١٤٤٧ هـ ق/ ١٤٠٤ هـ ش

د تأسیس کال ١٣٠٩ هـ ش

د امتیاز څښتن: ستره محکمه خپروونکی: د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست



## کتنپلاوی

شیخ محمد قاسم «راسخ»

مفتي عبدالرشید «سعید»

مفتي عبدالرحمن «عزیزي»

مولوي حمدالله «محمدي»

حافظ مولوي عبدالولي «محمود»



**مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم «راشد»**

پته: د عامې روغتیا څلور لارې، نهمه ناحیه، ستره محکمه، کابل - افغانستان

د اړیکې شمېرې: ٢٣٠٠٣٦١_٢٣٠٢٢٦٣

برېښنالیک: publications.sc1443@gmail.com

ویب سایټ: www.supreme court.gov.af

# لړلیک


١ سرمقاله
اداره

٢ د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته (١١ مه برخه)
مولوي عبدالرحیم «راشد» حقاني

٤ امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) (دویمه برخه)
مفتي محمد گل «سعید»

١١ په شریعت کې د قضاء حکمتونه (دویمه برخه)
مفتي رحمن الله «القاسمي»

١٦ برتری نظام قضائی اسلام
مفتی سید نورمحمد «محبی» کورابی

٢١ غلا او مسائل یې (پنځمه برخه)
مولوي عبدالکریم «الکریمي»

٢٧ د اسلامي عدالت ځانگړې خېرونه
اداره

٢٩ گزارش اجرآت قضائی و اداری ستره محکمه
اداره

## ســــــــــــــرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين و الصلوة والسلام على سيد المرسلين محمد و على آله و اصحابه اجمعين، اما بعد:

خپلواک او پر شرعي اصولو ولاړ عدلي او قضائي ارګان د هر اسلامي نظام او هرې ټولنې د ثبات او باور اساسي محور ګڼل کېږي؛ ځکه د خلکو د حقوقو ساتنه، د ظلم مخنیوی او د طرفینو ترمنځ د شخړو عادلانه حل د همدې ارګان له لارې ترسره کېږي.

د شریعت مطهره او نافذه قوانینو پر بنسټ د قضائي چارو سم، پر وخت او بې‌طرفه تطبیق نه یوازې د ټولنیز اعتماد د ټینګښت او اسلامي نظام د ثبات لامل ګرځي؛ بلکې د شرعي قانون حاکمیت او د عدالت تأمین ته هم عملي بڼه ورکوي.

اسلام یوازینی مبارک دین دی چې د ټولنې د وګړو او آن ټولو ژوندیو موجوداتو حقونه په کې تشریح او تأمین شوي دي؛ د دغه شرعي حقونو د نقض په صورت کې یې مجرم ته د جرم مطابق جزاګانې ټاکلې دي، چې د اسلامي نظام د قضائیه ارګان له لخوا تطبیق کېږي.

د افغانستان اسلامي امارت په چوکاټ کې د شرعي احکامو د تطبیق، د ټولنې د وګړو ترمنځ د عدالت د تأمین او حق حقدار ته د سپارلو په موخه ستره محکمه جوړه شوې چې تر چتر لاندې یې معاونیتونه، د تمیز محکمې، په ټولو ولایتونو کې مرافعه او ښاري ابتدائیه محاکم او په ولسوالیو کې د ولسوالیو ابتدائیه محاکم موجود دي؛ په دې سربېره د ملک په اتو زونونو (کابل، کندهار، هرات، بلخ، ننګرهار، کندز، غزني او پکتیا) کې د نظامي محاکمو ریاستونه لري، چې د هر زون په تشکیل کې د اړوند ولایتونو د نظامي محاکمو (څانګې) تنظیم شوې او د ولس د موضوعاتو د حل او فصل په موخه ځینې ځانګړې محاکم هم فعالیت لري.

د دې ټولو محاکمو د جوړېدو اصلي لامل دادی چې ولس په ډاډه زړه د خپلو شرعي حقونو د ترلاسه کولو لپاره یوې خپلواکې او باوري مرجع (محکمې) ته لاس رسی ولري، هېڅوک پر نورو د ظلم جرئت ونشي کړای؛ الحمدلله د اسلامي امارت یادو محاکمو د عالي قضائي مرجع په توګه، تل هڅه کړې ده چې قضائي چارې د اسلامي اصولو پر بنسټ په منظم، عادلانه او شفاف ډول ترسره کړي.

قضاء مجله چې تاسو یې اوس یوولسمه ګڼه لولئ، د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست یوه چاپي خپرونه ده چې هره ربعه کې یو ځل چاپېږي.

په دې مجله کې د قضائي، حقوقي او شرعي مسائلو په تړاو د محاکمو د مسؤولینو او منسوبینو، جیدو علماء کرامو او لیکوالانو پر مقالو سربېره د اسلامي امارت د محاکمو د مهمو کړنو او لاسته راوړنو لنډ راپور هم ځای پر ځای کېږي، تر څو لوستونکي د شرعي مسائلو اړوند معتمدې مقالې مطالعه او د محاکمو پر مهمو کړنو هم خبر او ډاډه شي.

د قضاء مجلې په دې ګڼه کې د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته (یوولسمه برخه)، امام اعظم ابوحنیفه (رحمه الله) (دویمه برخه)، برتری نظام قضائی اسلام (مطالعۀ تطبیقی با نظام‌های حقوقی وضعی)، غلا او مسائل یې (پنځمه برخه) او په شریعت کې د قضاء حکمتونه (دویمه برخه) تر عنوانونو لاندې ګټورې لیکنې او مقالې، د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي رئیس محترم شیخ ګل آقا (عاقب) صاحب سره د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه او د روان ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې په جریان کې د سترې محکمې د مهمو کړنو لنډ راپور ځای پر ځای شوی دی.

هیله ده چې مجله به له مطالعې وروسته په خوندي او مناسب ځای کې وساتئ؛ ځکه په مجله کې اکثریت د قرآنکریم مبارک آیاتونه او احادیث موجود دي.

**په درنښت**

# د قضاء تاريخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته

## د راشده خلافـت په دوره کې قضاء

يوولسمه برخه

ليکوال: قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم «حقاني»[1]
ژباړن: مولوي عبدالرحيم «راشد» حقاني[2]

**د علي ﵁ په دوره کې د قضاء ځرنگوالی:**

د علي ﵁ په دوره کې قضاء د مخکنيو خلفاء راشدينو په طريقه وه. علي ﵁ به قاضيانو ته پوره پاملرنه کوله، سره له دې چې د هغه د خلافت پر مهال مسلمانان سره ووېشل شول او په دغه خبره هغه ليک دی، چې د مصر والي اشتر نخعي ته يې لېږلی و او هغه کې يې ويلي: ... بيا د خلکو په منځ کې د قضاء لپاره هغه څوک غوره کړئ، چې ستاسو په نظر ستاسو په ولس کې غوره وي، داسې څوک وي چې کارونه يې زيات نه وي، د مخالفينو لخوا نه آزمويل کېږي، په غلطۍ ټينگار نه کوي، د غنيمت مال څخه يې زړه تنگ نه وي، روح يې د حرص لپاره لېوالتيا ونه لري، اعظمي حد ته له رسېدو پرته په لږ پوهې راضي نه وي، له شکونو يې ژغوري، له بحثونو يې منعه کوي، د مخالف په بيا کتنه کې ځان ډېر ستړی کوي، د مسئلو په ځرگندولو کې تر ټولو صبرناک وي، د پرېکړې له روښانه کېدو وروسته تر ټولو قوي وي، د شخړې کولو لپاره مغرور نه وي، نه هم د فتنې له امله آزمويل کېږي او دا لږ څېزونه دي؛ نو تاسو قضاء ته د هغه خپله ژمنتيا زياته کړئ، هغه څه ورته ورکړئ چې د هغه ناروغي لېرې کړي، له خلکو به يې اړتيا او تمه کمه شي، هغه ته داسې مقام ورکړئ چې ستاسو له ځانگړو کسانو څخه يې بل څوک تمه نشي کولای، تر څو هغه له تاسو سره د نږدېوالي له امله له هغو کسانو څخه خوندي وي، چې د ترور هوډ يې لري. (تاريخ القضاء لابن عرنوس، ص:۱۷)

په ياد ليک کې د قاضي ځانگړتياوې، هغه څه چې له هغه غوښتل کېږي او شتون يې په کې لازمي دی، په لنډ ډول او نه ستړي کېدونکو الفاظو شامل دي؛ نو دا ددې ښکارندويي کوي چې د قضاء په نظام کې د علي ﵁ پوره لېوالتيا وه، غوښتل يې چې حق وړ کس ته ورسېږي او د هغه ﵁ په ځيرکتيا او پوهې ښکاره دليل دی، په ځانگړې توگه د قضاء په چارو کې، چې په دې اړه عبدالله بن مسعود ﵁ وايي: « موږ به ويل چې د مدينې منورې د اوسېدونکو تر ټولو پوه قاضي علي بن ابي طالب﵁ دی». (رواه الحاکم فی المستدرک، رقم: ۴۶۵۶)

**د قضائيه قوې ځارنه:**

علي ﵁ به خپله د قاضيانو چارې او حالات ځارل او د قضاء کولو طريقې به يې ورښودلې، که به يې کوم قاضي وليد چې د قضاوت کولو آداب نه مراعاتوي؛ نو هغه به يې له دندې گوښه کړ.

علي ﵁ قاضي شريح ته وويل: «ستا ژبه ستا غلامه ده، تر هغو چې خبرې پرې ونه کړې؛ خو کله چې دې خبرې پرې وکړې، ته يې غلام يې؛ نو دا په پام کې ونيسه چې په څه قضاوت کوې، د څه په اړه قضاوت کوې او څنگه قضاوت کوې؟» (رواه کنز العمال، رقم:۱۴۴۳۳)

همدارنگه علي ﵁ ابو الاسود قاضي وټاکی؛ خو بېرته يې له دندې گوښه کړ، نو هغه وويل: «زه دې ولې له دندې لرې کړم، ما خو خيانت هم نه دی کړی او نه مې کوم جرم کړی؟» علي﵁ وويل: «ما ته وليدې چې په دعوه کوونکو به دې آواز پورته کاوه.» (المغني لابن قدامة:۱۰۹۰)

**د شاهدۍ ورکولو پر مهال د شاهدانو جلا کول:**

علي ﵁ لومړنی کس و، چې د شاهدانو ترمنځ يې د شاهدۍ حالت کې جلاوالی راوست، په دې اړه علي بن هاشم، هغه د خپل پلار، هغه د محرز بن صالح څخه روايت کوي چې: «علي ﵁ لومړی کس و، چې د شاهدانو ترمنځ يې جلاوالی راوست». (أخرجه ابن أبي شيبة فی

---

۱- د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئيس

۲- د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رئيس

مصنفه، رقم: ۱۰/۹۰)
ابن قیم (رحمه الله) وايي: ما د علي ﷺ د قوانینو په کتاب کې له سند پرته ولوستل، چې یوه ښځه د علي ﷺ مخې ته راوړل شوه او د هغې په وړاندې شاهدي ورکړل شوه چې هغې گناه کړې ده، اصلي کیسه یې داسې وه،هغه یوه یتیمه وه چې له یو سړي سره یې ژوند کاوه، سړي یوه ښځه درلوده، چې ډېرې وخت له خپلې کورنۍ څخه غیر حاضر و، بالآخره یتیمه انجلۍ لویه شوه او ښځې وېره درلوده چې مېړه به یې واده ورسره وکړي؛ نو هغې ځینې ښځې راوغوښتې، چې دا ورسره ونیسي، چې د هغې انجلۍ بکارت یې په خپل لاس پرې کړ، کله چې د هغې مېړه له سفر څخه را ستون شو، ښځې هغه د زنا په تور تورنه کړه او د خپلو گاونډیانو څخه یې شاهدان حاضر کړل، چې په دې کار کې یې له هغې سره مرسته کړې وه، له ښځې وپوښتل شول: آیا ته شاهدان لرې؟ هغې وویل: هو، دا زما گاونډیان زما د خبرو شاهدي ورکوي؛ نو علي ﷺ هغوی حاضر کړل، توره یې راوړه د هغوی مخې ته یې وغورځوله، هغوی یې سره جلا کړې، چې هره ښځه یې یوې خونې ته ولېږله، لومړی یې د هغه سړي ښځه راوغوښته، په هر لوري یې وگرځوله، مگر هغې بیا هم په خپله خبره ټینگار وکړ؛ نو هغه خونې ته یې ستنه کړه، په کومه کې چې وه، بیا یې یوه شاهده راوغوښته، په زنگنو کېناست او ورته وېې ویل: هغه ښځې هر څه ر‌ښتیا ویلي او حق ته را ستنه شوې ده، ما هغې ته امن ورکړی او که تاسو پر ما باور نه کوئ، بیا به زه حتمي خپل کار وکړم؛ نو هغې شاهدې وویل: نه، په خدای قسم، ما دا کار نه دی کړی، مگر څرنگه دا انجلۍ ښکلې او حسینه وه او هغې د خپل مېړه له فساد څخه وېره درلوده، نو هغې موږ راوبللو او موږ هغه د هغې لپاره ونیوله تر هغه چې ما په خپله گوته د هغې بکارت پرې کړ.
علي ﷺ وویل: زه لومړی کس وم، چې د دوو شاهدانو ترمنځ مې جلاوالی راوست، نو په ښځې باندې یې د تهمت لگولو سزا واوروله، په ټولو ښځو یې د شنډتوب حکم وکړ او سړي ته یې امر وکړ چې ښځه طلاقه کړي او له هغې یتیمې سره نکاح وکړي او مهر یې له خپل جیب څخه ورکړ. (الطرق الحکمیة في السیاسة الشرعیة،ص :۵٦)

**د ځواب اخیستلو پر مهال د مدعی علیهم جلاوالی:**

همدارنگه علي ﷺ به هم د تهمت او یا د درواغو د گمان په صورت کې د ځواب اخیستلو پر مهال مدعی علیهم سره جلا کول.
د ابن قیم (رحمه الله) په «الطرق الحکمیة، ص:۴۷»کتاب کې راغلي: یو ځوان علي بن ابي طالب ﷺ ته له یو څو خلکو څخه په شکایت راغی، وېې ویل: هغه کسان چې زما له پلار سره په سفر وتلي وو، هغوی ټول راستانه شول، خو زما پلار را ستون نشو؛ نو ما له هغوی څخه د خپل پلار اړوند پوښتنه وکړه، هغوی وویل: هغه مړ شو، بیا مې د پلار د مال په اړه وپوښتل؟ هغوی وویل:هېڅ شی یې هم نه دي پرېښي، په داسې حال کې چې له هغه سره زیات مال و، بیا موږ شریح (رحمه الله) ته ورغلو، نو هغوی ته یې قسم ورکړ او په خپله لاره یې پرېښودل، بیا علي ﷺ پولیس راوغوښتل او هر سړي ته یې دوه تنه (افسران) وگمارل، هغوی ته یې لارښوونه وکړه چې هېڅوا ته له یو بل سره د نږدې کېدو یا له چا سره د خبرو کولو اجازه ور نه کړي، بیا یې خپل کاتب او یو له دوی څخه راوغوښت او پوښتنه یې ترې وکړه، د دغه ځوان د پلار په اړه راته ووایاست، هغه له تاسو سره کومه ورځ ولاړ؟ تاسو په کوم کور کې پاتې شو؟ تاسو څنگه سفر وکړ؟ هغه په کومه ناروغۍ اخته شو؟ او همدارنگه یې وپوښتل چې چا هغه ته غسل ورکړ او خاورو ته یې وسپارلو، چا د جنازې لمونځ پرې وکړ؟ چېرې خښ شو او داسې نور...
په داسې حال کې چې کاتب دا پوښتنې لیکلې؛ نو علي ﷺ او حاضرو کسانو «الله اکبر» نعره وکړه، تورن کس چیغه واورېده مگر نه پوهېد چې لومړي سړي علي ﷺ ته څه ویلي دي، په هر صورت دوی فکر کاوه چې ملگري یې د دوی په اړه اعتراف کړی دی، بیا کله چې لومړی سړی ووت؛ نو هغه بل یو سړی یې راوغوښت او له هغه څخه یې هم هغسې پوښتنې وکړې، لکه څنگه چې له مخکني ملگري څخه یې کړې وې، بیا یې بل راوغوښت، تر هغه چې له ټولو څخه یې معلومات ځانته حاصل کړل، نو هر یوه د خپل ملگري په ضد به معلومات ورکول، له دې وروسته یې بېرته اول کس راوغوښت او ورته یې وویل: اې د خدای دښمنه! زه ستا د ملگرو څخه د اورېدل شویو خبرو له امله ستا په دوکې او دروا‌غو پوه شوم او بېله رښتیا ویلو څخه به بل هېڅ شی تا له سزا څخه ونه ژغوري، بیا یې امر وکړ چې هغه زندان ته یوړل شي او علي ﷺ «الله اکبر» وویل او حاضرو کسانو هم تکبیر وویل، کله چې خلکو ټول وضعیت ولید، نو هغوی هېڅ شک نه درلود، چې ملگرو یې د دوی په اړه اعتراف کړی دی؛ نو بیا یې له هغوی څخه بل یو کس راوغوښت او هغه ته یې گواښ وکړ، هغه کس وویل: اې امیرالمؤمنینه! په الله قسم، زه د دوی له کارونو څخه کرکه لرم، بیا یې ټول راوغوښتل نو هغوی هم په کیسې اعتراف وکړ او هغه کس چې په زندان کې و، راو غوښتل شو او ورته وویل شول: ستا ملگرو اعتراف کړی او له رښتیا ویلو پرته به بل هېڅ شی تا ونه ژغوري، نو هغه په ټولو هغه شیانو اعتراف وکړ، چې هغه نورو خلکو اعتراف کړی و؛ نو هغه دوی ته د مال جریمه او قتل په جرم د مرگ سزا ورکړه.
**نور بیا...**

# امام اعظم ابوحنیفه

## (رحمة الله علیه)

### دویمه او وروستۍ برخه

لیکنه: مفتي محمد گل سعید[1]

**د امام صاحب (رحمة الله علیه) هوښیارتیا:**

د امام ابوحنیفه صاحب (رحمةالله علیه) د هوښیارۍ او پوهې کیسې ډېرې دي، د امت عالمانو یې د ژوند د کیسو ټولګې جوړې کړې او په دې موضوع یې ځانته کتابونه لیکلي دي.

یزید ویلي: داسې څوک مې نه دي لیدلي چې تر امام صاحب (رحمة الله علیه) دې پوه او پرهېزګار وي.

خارجه بن مصعب ویلي: له نږدې (۱۰۰۰) علماوو سره مې ملاقات شوی دی چې درې یا څلور یې ډېر پوهان وو، په هغو پوهانو کې یو امام اعظم (رحمةالله علیه) و.

شامي رحمة الله علیه د امام ابویوسف (رحمة الله علیه) څخه روایت کړی چې امام اعظم (رحمة الله علیه) ته یو کس راغی او وویل: ما خپلې ښځې ته قسم واخیست چې تر هغه وخته خبرې نه درسره کوم تر څو چې تا خبرې نه وي راسره کړې؛ هغې هم قسم واخیست چې تر هغه مهاله زه هم خبرې نه درسره کوم تر څو چې تا خبرې نه وي راسره کړې! اوس موږ څه وکړو؟

امام اعظم (رحمة الله علیه) ورته وویل: ورشه خبرې ورسره وکړه، قسم نه دربانډې اوړي؛ هغه سړی سفیان ثوري (رحمة الله علیه) ته ورغی دغه کیسه یې ورته وکړه، هغه په غوسه شو امام اعظم (رحمة الله علیه) ته راغی ورته ویې ویل: ولې خلک په حرامو کې راګیروې؟ امام اعظم (رحمة الله علیه) ورته وویل، دا سړی دې خپله پوښتنه له سره وکړي، هغه سړي خپله پوښتنه بیا وکړه امام اعظم (رحمة الله علیه) بیا مخکنی ځواب ورکړ، سفیان ثوري (رحمة الله علیه) وویل: په کوم دلیل وایې چې پر دوی قسم نه اوړي؟ امام اعظم (رحمة الله علیه) ورته وویل: کله چې مېړه قسم واخیست تر هغه وروسته دده مېرمنې د خپل قسم اخیستلو خبرې ورسره وکړې؛ نو مېړه خو د قسم له اوښتلو څخه وژغورل شو؛ اوس دې نو مېړه ورشي او له خپلې ښځې سره دې خبرې وکړي تر څو پر هغې هم قسم وا نه وړي، سفیان ثوري (رحمة الله علیه) ورته وویل: تاسو ته د علم هغه باریکۍ لوڅې دي چې زموږ ورته پام هم نه وي.

**امام صاحب (رحمة الله علیه) څلوېښت کاله د سهار لمونځ د ماخوستن په اوداسه ادا کړ:**

د امام صاحب (رحمة الله علیه) د مناقبو لیکوال پردې خبره ټینګار کوي، چې امام اعظم (رحمة الله علیه) د ماخوستن په اوداسه سره د سهار لمونځ ادا کړی دی، یعنې د شپې لخوا یې استراحت نه دی کړی، د ورځې به یې تر ډېره وخته پورې طالبانو ته پخپله حلقه کې د فقهې او

[1] - دیني عالم او لیکوال

حدیثـو تدریس کاوه.
غسل قاضي حسن بن عماره (رحمة الله علیه) ورکړ او کله چې له غسل نه فارغ شو نو یې د امام صاحب (رحمة الله علیه) مړي ته په خطاب سره وویل: رحمک الله لم تفطر منذ ثلاثین سنة ولم تتوسدي یمینک باللیل منذ اربعین سنة کنت أفقهنا و أعبدنا و أزهدنا و أجمعنالخصال الخیر و قبرت اذ قبرت الی خیر و سنة أتعبت من بعدک.

ځینې خلک دا اعتراض کوي چې د احنافو په کتابونو کې دي چې امام ابوحنیفه (رحمة الله علیه) څلوېښت کاله د سهار لمونځ د ماخوستن په اودس کړی و او بیا وایي چې وګورئ احنافو خپل امام ته د نبي ﷺ نه لویه درجه ورکړه (نعوذ بالله من ذالک). ددې اعتراض دوه ځوابونه کوو:

تحقیقي ځواب: د ځینو خلکو دغه اعتراض د دوی په کم علمۍ باندې دلالت کوي؛ ځکه دوی ته دا معلومېدل په کار دي چې یو د عمل وزن وي او بل د عمل مقدار وي؛ نو د مقدار په اعتبار نبي ﷺ یو حج کړی و او په امت کې داسې خلک شته چې لس لس حجونه یې کړي دي، نبي کریم ﷺ به کم او زیات پنځوس کاله عبادت کړی وي؛ خو په امت کې داسې خلک شته چې سل کاله عمر لري؛ نو هغوی به (۸۰) کاله لمونځونه او عبادات کړي وي؛ خو د وزن په اعتبار د نبي کریم ﷺ یو حج ته د ټول انسانیت په شمول د صحابه‌وو، ټول حجونه نشي رسېدلی او دغه شان د نبي کریم ﷺ یوې سجدې ته د ټول انسانیت په شمول د انبیاوو ټولې سجدې نشي رسېدلی، الحمدلله د احنافو نظریه همدا ده چې امام صاحب څلوېښت کاله د سهار لمونځ د ماخوستن په اودس کولو سره یو ادنا صحابي ته هم نشي رسېدلی پاتې شو لا نبي ﷺ ته رسېدل.

الزامي ځواب: مولانا امین صفدر اوکاړوي (رحمة الله علیه) ته یو سړی راغی او ورته وویل: تاسو دا دعوه کوئ، چې امام صاحب څلوېښت کاله د سهار لمونځ د ماخوستن په اودس کړی؛ نو آیا د هغه بي بي نه وه؟... د هغې حق یې نه ادا کولو؟... نو امین صفدر صاحب ورته وویل: چې د دغه اعتراض کولو حق دوه کسانو ته و، یو د امام صاحب بي بي ته، بل د امام صاحب د بي بي وکیل ته؛ نو اوس راته ته ووایه چې ته د امام صاحب بي بي یې که د امام صاحب د بي بي وکیل یې؟ هغه سړی چپ شو؛ نو حضرت ورته وویل چې د دې دا مطلب هم نه دی چې یوه ورځ یې هم په دې کې قضاء نه ده کړې؛ بلکې دا خو د هغه اکثر عادت وو کله کله به یې آرام هم کاوه او نور بشري ضروریات یې هم پوره کول.

ددې واقعې بیانولو والا صرف احناف نه دي؛ بلکې ددې په بیانوونکو کې شافعي، حنبلي او مالکي علماء کرام هم شامل دي، د بېلګې په توګه:

١. امام نووي شافعي (تهذیب الاسماء صفحه ۷۰۴) کې.
٢. علامه دمیري (حیات الحیوان جلد ۱ صفحه ۱۲۲) کې.
٣. حافظ ابن حجر عسقلاني شافعي په (تهذیب التهذیب ټوک ۱۰ صفحه ۴۵۰)کې.
٤. علامه جلال الدین سیوطي شافعي د (تبیض الصحیفه صفحه ۱۵) کې.
٥. قاضي حسین بن محمد دیار مالکي د ( تاریخ الخمیس جلد ۲ صفحه ۳٦٦)کې.
٦. عبدالوهاب الشعراني شافعي د (کتاب المیزان جلد ۱ صفحه ٦۱)کې.
٧. ابن حجر مکي الشافعي د (الخیرات الحسان صفحه ۳٦) کې.

شیخ عبدالقادر جیلاني حنبلي وایي چې د څلوېښتو تابعینو متعلق منقول دي، چې هغوی څلوېښت کاله د سهار لمونځ د ماخوستن په اوداسه کړی و او ددې سند

صحیح دی.[۱]

لـه دغـه معاندینـو خلکـو څخـه دا پوښـتنه کوو چې د دغو اکابرینـو علـماوو پـه اړه څـه وایاسـت؟ د دغـه څلوېښـتو تابعینـو پـه اړه څـه وایاسـت؟ چې څلوېښـت کالـه يـې د امـام صاحـب غونـدې د سـهار لمونـځ د ماخوسـتن پـه اوداسـه ادا کـړی دی.

آیـا شـیخ عبدالقـادر جیلاني هـم د دې څلوېښـت اکابرینو دا د څلوېښـت کاله د سـهار لمونځ د ماخوسـتن په اودس کولـو والا واقعـې بیانولـو کـې غلـو کـړې ده؟ آیـا دا ټـول حنبلـي، مالکـي او شـافعي علـماء او اکابریـن هـم د امـام ابـو حنیفـه پـه بـاره کـې غُلو کـوي؟ [۲]

د نـن عـصر نامتـو عـالم مفتي محمـد تقي عثـماني (دامت برکاتـه العالیـة) د امـام صاحـب (رحمـة اللـه علیـه) زیارت ته تللـی دی او د خپـل یـون پـه هکله لیکي: د امام ابویوسـف (رحمـة اللـه علیـه) لـه مـزار نـه پـه داسـې وخت کـې ووتلو چـې د لمـر سـترګه پـه ډوبېـدو وه او پـه زړه کـې مـې د امـام صاحـب (رحمـة اللـه علیـه) قبـر ته د رسـېدلو سخت شـوق او زیاتـه تلوسـه وه، هغـه کـه څـه هـم لـه دې ځایه لږ څـه زیـات لـرې و؛ خـو زمـوږ موټـر چلوونکـي د خپلـې موټر چلونـې ترڅنـګ د مېلمـه پالنـې حقـوق هـم پـه ښـه مینـه او اخـلاص سرتـه رسـول، چـې پـه دې توګـه یـې د ماښـام لمانځـه لپـاره هلته«مسـجد الامـام الاعظـم» تـه ورسـولو. د امـام صاحـب (رحمـة اللـه علیـه) د قبر مبارک وچې نه دا ټولـه سـیمه پـه « اعظمیـه» بانـدې مشـهوره ده.

اوس دغـه ځـای د ښـار تـر ټولـو خـورا ښایسـته سـیمه ده؛ خـو د امـام صاحـب (رحمـة اللـه علیه) پـه دور مبـارک کې دا ځـای یـوازې هدیـره وه؛ البتـه دا چـې هلتـه د خلیفـه وینځـه «خیـزران» پـه کـې دفـن وه؛ نو لـه همـدې کبله یې پـه «مقبرة الخیـزران» بانـدې شـهرت درلـود.

خطیـب پـه خپـل کتـاب «تاریخ بغـداد» کې لیـکلي دي: د رسـول اللهﷺ د سیرت مشـهور راوي « محمد ابن اسحاق» هـم پـه دغـه هدیـره کـې دفـن دی؛ خـو اوس هلتـه نـور قبرونـه ړنـګ شـوي دي او کومـې نښـې نښـانې یـې هم نه لیـدل کېـږي او آبـادي وربانـدې راغلـې ده؛ خـو البتـه د امـام صاحـب (رحمـة اللـه علیـه) قبـر اوس هـم شـته او تر څنـګ یې سـتر جامع جومـات د «جامـع الامـام ابوحنیفه» پـه نـوم بانـدې رغـول شـوی دی.

مـوږ د جومـات دروازې تـه پـه رسـېدو وو، چـې پـه زړه وړونکـي غـږ د ماښـام آذان وشـو، قبر ته لـه ورتللو وړاندې مـو همدلتـه پـه جومات کـې د ماښـام لمونځونـه وکړل او بیا پـه ډېـره مینـه او تلوسـه یـې د قبر څنـګ تـه ورغلـو، هلته پـه ورتلـو مـوږ داسـې احساس کاوه، چـې ګواکي خوښـي او آرام مجسـم شـوي دي او د قبر څخه چاپېره را تاو دي او زمـوږ مخـې ته هغـه محبوب ویـده دی، چې له ماشـومتوبه مـې ورسره دومـره مینـه وه، که به چېرې د هغه نوم مبارک مخـې تـه راغـی؛ نـو د قـدر او مینـې ولولـو بـه مـې زړه پـه درزا کـړ.

امـام ابـو حنیفـه (رحمـة اللـه علیـه) هغـه وخت پـه کوفه کـې وزېږېـد، چـې کلـه دغـه ښـار د علـم او پوهـې سـتر مرکـز ګرځېدلـی و، د هغـه پـه هـره کوڅه کـې د لویـو - لویو محدثینـو او فقهـاء کرامـو د درس حلقـې جوړېدلـې او د علـم حدیـث یـو طالـب العلـم هـم داسـې نـه و، چـې هغـه

---

۱- - (غنیة الطالبین صفحه ۶۹۴ )

۲- -العلل المتناهیة فی الأحادیث الواهیة لابن الجوزی: ۱/ ۱۲۸ رقم ۱۶۹ تذکرة الموضوعات: ۱/ ۱۱۱. تاریخ بغداد: ۳/ ۳۲. الکاشف فی معرفة من له روایة فی الکتب الستة: ۱/ ۱۲۸ رقم ۵۸۴۵. الناشر: دارالقبلة للثقافة الاسلامیة، مؤسسه علوم القران جدةالطبعه: الأولی، ۱۴۱۳-هـ ۱۹۹۲ م، تذکرةالحفاظ :۱/ ۱۲۷، تهذیب الکمال فی أسماء الرجال: ۲۹/ ۴۱۷ للحافظ المِزّی (المړ ۷۴۲هـ). مسند الامام ابی حنیفه: ۱/ ۲۴. (ذکرمن رای من الصّحَابَة وروی عَنْهُم)، عقودالجمان فی مناقب الامام الاعظم أبی حنیفةالنعمان. مناقب الامام ابی حنیفه دعلامه ذهبی مخ ۱۸. (تذکرةالحفاظ ۱ټوک ۱۶۸مخ.)

دې د کوفې علماوو تـه محتاج نـه وي.

د امام صاحب (رحمة الله علیه) پلار محترم «ثابت» نومېده او هغه په داسې وخت کې وفات شوی و، چې امام صاحب (رحمة الله علیه) لا ماشوم و؛ البته په یوه روایت کې داسې هم ویل شوي، چې د هغه مور محترمې وروسته له امام جعفر صادق (رحمة الله علیه) سره نکاح وکړه، چې هغه د امام صاحب (رحمة الله علیه) سرپرستي په غاړه واخیسته.[1]

په لومړیو کې امام صاحب (رحمة الله علیه) په تجارت باندې اخته و؛ خو کله، کله به یې د عقایدو او علم کلام سره هم مینه څرګندوله او د علماوو په مجلسونو کې به یې برخه اخیستله، حضرت عامر بن شراحیل په هغه مبارک کې د ذهانت او فطانت آثار ولیدل؛ نو ورته یې د علم په زده کړه کې د ښې ژورې پوهې د ترلاسه کولو توصیه وکړه، امام صاحب (رحمة الله علیه) باندې یې نصیحت اغېز وکړ او د تجارت پر ځای یې د علم زده کړې ته مخه کړه.[2] او د خپل وخت له ټولو سترو علماوو څخه یې د علم زده کړه وکړه، تر دې چې ځینو دده د استادانو شمېر څلور زره یاد کړی دی.

له دې وروسته چې الله ﷻ له امام صاحب (رحمة الله علیه) څخه د دین کوم خدمت واخیست د هغه بیانولو ته کوم حاجت نشته او دا دی د هغه (رحمة الله علیه) برکت دی، چې نن ورځ له نیمې نړۍ څخه زیاته مسلمانه ټولنه د قرآن او حدیثو په تشریح کې هغه (رحمة الله علیه) ته محتاج دي او خپل امام او مقتدا یې ګرځوي.

امام صاحب (رحمة الله علیه) څه موده په کوفه کې مقیم و او هلته یې ژوند کاوه؛ خو د کوفې مشر «ابن هبیره» د ځینو سیاسي وجوهاتو پر بناء باندې نه تنها دا چې هغه بندي کړ؛ بلکې سخت تکلیفونه یې هم ورته ورکړل؛ خو کله چې له زندان څخه خلاص شو؛ نو د ظلم او ستم څخه د ساتنې په موخه یې مکې مکرمې ته مخه کړه، هلته لاړ او څو کاله یې هلته اوسېدنه غوره کړه، له هغې نه وروسته چې کله د عراق حالات ښه شول؛ نو بېرته عراق ته ستون شو او دا هغه وخت و، چې د عباسي خلافت آغاز و، په لومړیو کې هغه عباسي خلافت ته په دې وجه ښه راغلاست وواېه، چې په دیني اعتبار سره به له بني امیه څخه ښه ثابت شي؛ خو چې کله یې دا ارمان پوره نشو؛ نو د عباسي خلیفه ګانو سره هم د هغه (رحمة الله علیه) اختلافات پیل شول.

خلیفه منصور غوښتل چې د هغه په پاچاهۍ کې امام صاحب (رحمة الله علیه) کوم دولتي منصب قبول کړي، تر څو په دې توګه د خلکو حمایت ځان ته راجلب کړي؛ خو امام صاحب (رحمة الله علیه) دا ډول هېڅ کوم منصب منلو ته تیار نشو؛ ځکه چې ځینې شرعي کارونه د دولتي فرمانونو د پر ځای کولو په وجه له منځه تلل؛ البته کله، چې په هغه باندې فشار زیات شو؛ نو هغه د ښاروالۍ دندې منلو ته غاړه کېښوده.

له هغې وروسته منصورورباندې سخت زیات فشار راوړ، تر څو د قضاء دنده قبوله کړي؛ خو امام صاحب (رحمة الله علیه) په هېڅ ډول دغه دندې منلو ته غاړه نه پرېښوده، چې په دې سره یې هغه بندي کړ او (۱۱۰) دورې یې هم وواهه. په ځینو روایاتو کې راغلي، چې هغه (رحمة الله علیه) په همدغه زندان کې وفات شو او په ځینو نورو کې بیا ویل شوي، چې له بنده خلاص شو؛ خو حکومت د دې اجازه نه ورکوله، چې فتوا ورکړي، یا له کور څخه بهر شي؛ تر څو بهر له خلکو سره وګوري، چې همدې وخت کې ورته د مرګ



---

۱-- (حدایق الحنفیه: ۴۳/ د مفتاح السعادة په حواله)

۲-- (مناقب الامام الاعظم: ۱/۵۹/ د. علامه مکي لیکنه)

قاصد راغی او لـه دنیا څخه رخصت شو، چې د بغداد دغه برخې «اعظمیـه» د هغه د ارامگاه سعادت ځان ته حاصل کړ.

لکه څنګه چې وړاندې وویل شول، هغه ځای چېرې چې د امام صاحب (رحمة الله علیه) قبر دی په لومړیو کې یوه هدیره وه، چې د مقبرة الخیزران په نوم مشهوره وه؛ خو د امام صاحب (رحمة الله علیه) له تدفین نه وروسته یې په اعظمیه سره شهرت پیدا کړ، د امام صاحب (رحمة الله علیه) متعلقینو د هغه له قبر سره خوا کې یو مسجد جوړ کړ، د درس او تدریس لړۍ یې پیل کړه، چې دغه جومات ورو ورو پراخې پیدا کړه تر دې، چې لوی جامع مسجد شو، ځان ته بېل او اوږد تاریخ لري او د دغه جومات برحاله امام ورباندې بشپړ کتاب لیکلی دی.

د امام صاحب (رحمة الله علیه) قبر ته خاص او عام تـول راځي؛ خو علامه خطیب بغدادي د خپلې خوښې په خاطر د امام شافعي (رحمة الله علیه) قول را نقل کوي، وايي: اني لاتبرک بابي حنیفة، و اجيئ الی قبره في کل یوم - یعني زائر – فإذا عرضت لي حاجة صليت رکعتین، وجئت الی قبره وسألت الله تعالی الحاجة عنده فاذا، فماتبعد عني حتی تقضی.[1]

یعنې، زه په امام ابو حنیفه سره د برکت حاصلولو لپاره د هغه قبر ته هره ورځ ورځم او کله، چې ماته کوم حاجت پیدا شي؛ نو دوه رکعته لمونځ وکړم د هغه قبر ته ورشم او هلته الله جَلَّ جَلَالُهُ ته د خپل حاجت اړوند سوال وکړم؛ نو الله جَلَّ جَلَالُهُ زما حاجت ډېر ژر را پوره کړي.

د امام شافعي (رحمة الله علیه) بله خبره، چې زیاته مشهوره ده هغه دا چې یو ځل امام شافعي (رحمة الله علیه) د هغه قبر ته ورغی؛ خو هلته یې د خپل مذهب خلاف لمونځ وکړ، د سهار په لمانځه کې یې دعاء قنوت ونه ویله، دا ځکه چې امام صاحب (رحمة الله علیه) مذهب دا نه و، چې سهار لمونځ کې دې دعاء قنوت ولولي.

د امام ابو حنیفه (رحمة الله علیه) په قبر باندې په کېناستلو کې داسې آرام او سکون پروت و، لکه ماشوم ته، چې د مور په غېږه کې پروت وي، زړه غوښتل چې دا کیفیت باید تر ډېره او تلپاتې وي؛ خو که تر ډېره هم ناست وی؛ نو د پورته کېدلو نه بله چاره نه وه او په داسې ډول ورڅخه را پورته شوم، چې هېڅکله مې زړه نه غوښتل ترې ولاړ شو.

د امام ابوحنیفة (رحمة الله علیه) په مناقبو زیات شمېر کتابونه لیکل شوي، چې د یو څو کتابونو نومونه دادي:

١. فضائل الإمام أبي حنيفة: للشيخ احمد بن محمد بن احمد بن شعيب الحنفي (رحمة الله عليه)؛
٢. أخبار أبی حنيفة وأصحابه: للامام قاضي أبي عبدالرحمن بن علي الصيميری (رحمة الله عليه)
٣. شقائق النعمان في مناقب النعمان:لجارالله زمخشري (رحمة الله عليه)؛
٤. مناقب الإمام الأعظم: للعلامة صدر أبي المؤيد موفق الدين بن احمد المكي الخوارزمي (رحمة الله عليه)؛
٥. قلائد عقود الدررو العقيان في مناقب أبي حنيفة النعمان: للامام شرف الدين أبوالقاسم بن عبدالعليم العيني القرشي الحنفي.
٦. البستان فی مناقب النعمان:للشيخ محی الدين عبدالقادر القرشی (رحمة الله عليه)؛
٧. كتاب الإمتصار لإمام أئمة الأمصار: للشيخ ابن مظفر يوسف بن قزاغلي البغدادي (رحمة الله عليه)
٨. تحفة السلطان في مناقب النعمان:لإبن خلكان (رحمة الله عليه)؛

---

١- (تاريخ بغداد، ج ١، ص١٣٥، دارالكتب العلمية ببروت.--

۹. الخيرات الحسان: لابن حجر المكي الشافعي (رحمة الله عليه)؛
۱۰. تبييض الصحيفة: للسيوطي (رحمة الله عليه)؛
۱۱. عقودالجمان: للإمام أبي عبدالله محمد بن يوسف الصالحي (رحمة الله عليه)؛
۱۲. الإمام أبو حنيفة: للدكتور طارق السويدان
۱۳. تاريخ مذاهب الاربعة: أبي زهرة؛
۱٤. الدر المنظم في مناقب الإمام أعظم: نوح آفندي؛
۱۵. امام ابو حنيفه كى سياسى زندگى: مولانا منظور نعمانى (رحمة الله عليه)؛
۱٦. امام اعظم ابو حنيفه كا محدثانه مقام: مفتى محمد نعمان؛
۱۷. مكانة الإمام أبي حنيفة بين المحدثين :محمد قاسم عبده الحارثي؛
۱۸. مكانة الامام أبى حنيفة: علامه عبدالرشيد نعماني (رحمة الله عليه)؛

او نور... [۱]

**د امام ابوحنيفه (رحمة الله عليه) شهادت:**

د اسلامي نړۍ مظلوم امام د ظالمانو په زندان کې ډېرې ستونزې، کړاوونه، دردونه، د مرگ گواښونه په ځان ومنل او دا هرڅه يې په ستر همت او سړه سينه تېرکړل؛ په داسې حال کې چې (۷۰) کلنی ته ورځ په ورځ ور لنډېده، مبارك بدن يې تدريس او د خلکو پوښتنو او ځوابونو ځپلی و، مبارکه ږيره يې سپينه شوې وه، له دې ټولو کړاوونو او ننگونو سره سره بيا هم امام ابوحنيفه (رحمة الله عليه) له خپل دريځ څخه، نه وروسته شو او نه يې هم ستره او ټينگه اراده د يوې گوتې په اندازه راټيټه او سسته شوه؛ ځکه چې پاك زړه، سپېڅلي روح، لوړ همت او ټينگ ايمان يې د دې ټولو گواښونو او کړاوونو مخې ته د فولادي غره په څېر په بې‌پروايۍ سره ټينگ او کلك ولاړ و؛ خو کمزورۍ، بې‌وسه او ناتوانه مبارك بدن يې نور د ټينگېدو او درېدو توان له لاسه ورکړی و.

هماغه و، چې نوميالي، اتل، بهادر او زړور سپين ږيري او ستر امام (رحمة الله عليه) په ظالم زندان کې د خپل رب د بلنې په لور د تللو اراده وکړه او په ۱۵۰هـ ق کال کې يې له دې فاني نړۍ څخه په سپينه ږيره په ډېر مظلوميت، بې‌وسۍ او بې کسۍ سره د ظلم او وحشت په بې‌رحمه منگولو او د ظالم خليفه په وحشي ځنځيرونو کې تړل شوې سترگې پټې کړې؛ تر څو بيا د قيامت په ورځ، چې نه مال او نه هم اولاد د چا سپارښتنه کولای شي د خپل رب په وړاندې د ظلم په ځنځېرونو تړلی، له ظالم واکمن څخه خپل حق وغواړي، بې‌رحمه منصور مظلوم امام ته په ډوډۍ کې د زهرو ورکولو سپارښتنه کړې وه او په دې نامرده او ناځوانه توگه د بې‌وسه او ناچاره عاجز مبارك امام د ژوند شپېې پای ته ورسېدې.

ځينې وايي چې د هغه د جلادانو تر دُرو لاندې شهيد کړل شو؛ قوي شواهد او معتبر اقوال هغه دي چې ويل کېږي په کوم ځای کې چې امام اعظم (رحمة الله عليه) وفات شو، نومړي په هغه ځای کې اووه زره ځله د قرآنکريم ختم کړی و.

د ده په مړينه لومړی له څو تنو پرته نور څوك نه وو خبر، غسل ورته قاضي حسن بن عماره (رحمة الله عليه) ورکړ، عبدالله بن واقد او ابورجاء هيروي اوبه ور اچولې.

قاضي حسن بن عماره (رحمة الله عليه) چې د بغداد قاضي او مشهور عالم و د غسل پر مهال وژړل او د امام صاحب مناقب يې بيانول؛ کله چې د بغداد اوسېدونکو ته د امام اعظم (رحمة الله عليه) د شهادت خبر ورسېد،

---

۱- الجواهر المضية : ۱ جلد، ۱٤ مخ. جامع المسانيد : ۳۳ مخ. او ...

چې پـه قـوي امـکان د منصـور د دُرو له لارې ور رسېدلی و؛ نـو ډلـې ډلـې د جنـازې خواتـه راروان وو. موفق لیکي: «کثرالبـکاء علیـه» (د هغـه پـر شـهادت ډېـره ژړا وشـوه) ابورجـاء الـهروي وایـي: «لم أر باکيـاً أکثـر مـن یومیـئذ» (مـا تـر اوسـه پـورې دومـره ژړېدونکـي نـه وو لیـدلي) وایي چې د امـام اعظـم (رحمـة اللـه علیه) پـر قبر بانـدې پنځه ورځـې د جنـازې لمونځونـه اداء کېـدل او پـه اخر کـې د هغـوی زوی حـماد (رحمـة اللـه علیـه) د هغـه جنـازه وکړه. د نومـوړي د لومـړۍ جنـازې پـه اړه ویـل کېـږي چې (٥٠) زره کسـانو ګـډون پـه کـې کـړی و، د یـوه روایـت لـه مخـې منصـور پخپلـه هـم پـه دغه جنـازه کـې ګـډون کـړی و.

امـام ذهبـي (رحمـة اللـه علیـه) لیکلي دي: الإمامـة في الفقـه ودقائقـه مسـلمةإلی هـذا الإمـام، وهـذا أمـر لاشـك فیـه. وسـیرته تحتمـل أن تفـردفي مجلدیـن،رضي اللـه عنـه،ورحمـه. تـوفي شـهیدا، مسـقیا، في سـنة خمسـین ومئـة[1]

بـل ځـای لیکـي: وبلغنـا ان المنصـور سـقاه السـم فاسـود ومـات شـهیدا.[2]

ژبـاړه: ماتـه خـبر راکـړل شـوی چـې منصـور، امـام صاحب (رحمـة اللـه علیـه) تـه پـه خوراک کـې زهر ورکـړل؛ نو رنګ یـې تـور او د زهـرو لـه اثـره شـهید شـو.

مسـلمانو علـماوو د امـام صاحـب (رحمـة اللـه علیـه) پـه مـرګ دغـم ډکـې وینـاوې وکـړې، لکـه سـتر محـدث او د صحـاح السـتة مرکـزي راوي ابـن جريـج مکـي (رحمـة اللـه علیـه) (پـه ١٥٠ کې وفات شـوی) چې کلـه د امام صاحب (رحمـة اللـه علیـه) لـه وفـات څخه خبر شـو، له انا للـه و انا الیـه راجعـون څخـه وروسـته یـې وویـل: «أي علـم ذهـب» [3]

او دایـې هـم وویـل: «لقـد ذهـب معـه علـم کثیر».[4]

ژبـاړه : اللـه ﷻ دې پـه ده رحـم وکـړي د ده پـه وفـات ډېر علـم تر خـاورو لاندې شـو.

د امـام اعظـم (رحمـة اللـه علیـه) د شـهادت کیسـه د بېـلا بېـلو معتـبرو کتابونـو او کـره روایاتـو پـه کتلـو سره سـمه ګڼـل کېـږي؛ خـو یـو شـمېر داسـې روایـات چـې د امـام اعظـم (رحمـة اللـه علیـه) د وروسـتیو شـېبو پـه اړه لیـکل شـوي، لـه امـام اعظـم (رحمـة اللـه علیـه) سره د ډېـرې مینـې ښکارندوی ګڼـل کېـدای شي او له عادت سره سـم د مظلومیـت لـه دا ډول پېښـو سره عمومـاً لـږ څـه مبالغـه هـم تـړلې وي؛ خـو د منصـور لخـوا د هغـه پـه جنـازه کـې ګـډون او د سـترو وزیرانـو او دولتـي مامورینـو لخوا د هغـو د ضمانـت روایـات، همـدا راز د منصور د سـپین‌ږیري اکا عبدالصمـد بـن علـي د تأسـف پـه مقابل کـې د منصور پښـېماني او ... دا ټـول شـواهد دي چـې د امـام اعظـم (رحمـة اللـه علیـه) د شـهادت پېښـه تـر دُرو لانـدې یـا د زهـرو پـه مسـتقیمه ورکـړه یـا هـم د زنـدان پـه دوران کـې نـه تائیـدوي.

---

١- سیرأعلام النبلاء (٦/ ٤٠٣).

٢- (مناقب ابی حنیفه وصاحبیه صفحه٤٨)

٣- (تهذیب الکمال، جلد١٩صفحه١٨٠)

٤- مناقب الامام أبي حنیفة وصاحبیه، ٢٩.

# په شریعت کې د قضاء حکمتونه

دویمه او وروستۍ برخه

لیکوال: مفتي رحمن الله «القاسمي»[1]

**د شریعت په رڼا کې د ظالم امام / حاکم عذاب**

په قرآن کریم او احادیثو کې د ظالم امام/ حاکم ډېرې سزاګانې ذکر شوې، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱- الله ﷻ فرمایي: هر څوک چې کږېدونکی وي له سمې لارې، اسلام او له عدل څخه؛ نو وي به دوی د جهنم لرګي/خاشاک د سوځولو.[2]

د دې آیت په تشریح کې علماوو کرامو فرمایلي دي، چې په حکم کې عدل او انصاف نه کول ګناه کبیره او ظلم دی.[3]

۲- سنن الترمذي د ابو سعید رضي الله عنه په روایت د رسول الله ﷺ څخه حدیث نقل کړی فرمایي: د قیامت په ورځ الله ﷻ ته خوښ او په مجلس کې نږدې شخص عادل امام/حاکم دی؛ خو تر ټولو سپک او بدترین او د مجلس څخه لرې انسان ظالم امام/حاکم دی.[4]

۳- سنن النسائي د سعید المقبري رضي الله عنه په روایت د رسول الله ﷺ څخه حدیث نقل کړی فرمایي: څلور کسان دي چې الله ﷻ ور څخه ناراضه او بغض ورسره کوي، په بیعه او شرا کې قسم کوونکی ... او ظالم امام.[5]

مطلب: د آیت او احادیثو مبارکو څخه راڅرګنده شوه چې هغه حاکم/قاضي چې خپل مسؤولیت په عدل انصاف سره نه تر سره کوي، خپل حکم کې د عدل او انصاف څخه انحراف او د ظلم بې انصافۍ د لاره تعقیبونکي وي، دوی به په جهنم کې په مثل د سوزېدونکي خاشاک او الله ﷻ ته به د ناخوښ او ډېر ناوړه انسانانو له جملې څخه وي.

**د عدل قایمولو ګټې**

۱- عدل سره د الله ﷻ امر پر ځای کېږي؛

۲- په عدل سره حق حقدار ته رسول کېږي؛

۳- په عدل سره الهي نصرت نازلېږي؛



---

۱- د ننګرهار ولایت د دره نور ولسوالۍ ابتدائیه محکمې قضائي محرر

۲- [وَأَمَّا الْقَاسِطُونَ فَكَانُوا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا] سورة الجن: ۱۵.

۳- وَأَجْمَعَ عُلَمَاءُ الْمُسْلِمِينَ: أَنَّ الْجَوْرَ فِي الْحُكْمِ مِنَ الْكَبَائِرِ، لِلْوَعِيدِ الْوَارِدِ فِيهِ، قَالَ اللَّهُ - عَزَّ وَجَلَّ - وَأَمَّا الْقَاسِطُونَ فَكَانُوا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا. الاستذكار الجامع لمذاهب فقهاء الأمصار جـ ۲۷ صـ ۳۳۷.

٤ -«إِنَّ أَحَبَّ النَّاسِ إِلَى اللَّهِ يَوْمَ القِيَامَةِ وَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَجْلِسًا إِمَامٌ عَادِلٌ، وَأَبْغَضَ النَّاسِ إِلَى اللَّهِ وَأَبْعَدَهُمْ مِنْهُ مَجْلِسًا إِمَامٌ جَائِرٌ» سنن الترمذي جـ ۳ صـ ۶۰۹.

٥ -عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أَرْبَعَةٌ يَبْغُضُهُمُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: الْبَيَّاعُ الْحَلَّافُ، وَالْفَقِيرُ الْمُخْتَالُ، وَالشَّيْخُ الزَّانِي، وَالْإِمَامُ الْجَائِرُ. سنن النسائي جـ ٥ صـ۸۶.

۴- او عدل د یوه نظام د دوامداره او همېشه واکمنۍ لامل کېږي.

**د عدل د نه قايمولو لاملونه**

۱- له خپل مقام څخه سوء استفاده کول؛

۲- کبر کول؛

۳- ناحقه اړيکې کول او منل؛

۴- اصول نه عملي کول؛

۵- او کار اهل کار ته نه سپارل.

نچوړ د خبرې دا شو چې ګڼ شمېر د قرآن کریم آیاتونو او احادیثو څخه دا خبره را معلومه شوه، چې کله هم چا ته د فیصلو او د حکم واک وسپارل شو؛ نو د عدل څخه دې کار واخلي، داسې نه چې له خپل منصب، موقف او موقع څخه بده استفاده، غرور او ظلم زیاتی وکړي، نو هر مسؤول /قاضي ته اړينه ده چې نوموړي حکمت ته ډېره پاملرنه وکړي، تر څو په ټولنه کې عدالت تأمین شي.

**اتم حکمت: إيصال الحقوق إلى أهلها (حق حقدار ته سپارل)**

حقوق جمع د حق ده، پـه لغـت کـې په معنی د واجب او ثابت سره.[1]

په اصطلاح کې علامه عبد العزيز الفرهاروي (رحمَه اللَّه تعالى) په اصول الفقه کې داسې تعریف کړی: «حق» هغه موجود شي څخه عبارت دی چې د هغه په وجود کې هېڅ قسم شبه نه وي؛ لکه د سترګې نظر او سحر حق دي.[2]

دا چې حق حقدار ته سپارل یو اړینه مسئله ده، نو د يوې سالمې ټولنې او د ښې حکومتولۍ لپاره اړينه ده، چې مسؤولین /واکمنان بالخصوص قضات هر هيوادوال ته خپل حق وسپاري، تر څو د ټولنې ټول افراد له خپلو اسلامي او انساني حقوقو څخه برخمن شي.[3]

له همدې امله چې په ټولنه کې یو انسان د بل انسان حق پايمال نه کړي، په اړه يې د رسول الله ﷺ داسې ارشاد دی؛ صحيح مسلم د ابو هريره رضی الله عنه په روايت حديث نقل کړی فرمايي: په يو مسلمان باندې د بل مسلمان وينه، مال او حياء پايمالول حرام دي.[4]

دا چې رسول الله ﷺ دغه درې ډوله شيانو پايمالول حرام او ناروا ګرځولي؛ نو د نوموړو اشياوو ساتنه او حفاظت د يوې ټولنې سالمتوب لپاره اړين دي.

د وينې پايمالولو مخنيوی ځکه ضروري دی، چې د يو شخص له ناحقه قتل يا زخمي توب څخه مخنيوی وشي.

د مال پايمالولو مخنيوی ځکه ضروري دی، چې د يو زورواکي په زبردستۍ سره د يو شخص د مال له غصب، غلا او خيانت څخه مخنيوی وشي.

د حياء د پايمالولو مخنيوی ځکه ضروري دی، چې د يو مسلمان حسب او نسب يې د غيبت، کنځلو او د چغل خورۍ او نورو ناوړه اشياوو څخه مخنيوی وشي او انساني شرافت يې پر ځای پاتې شي.[5]

---

۱ - الحق هو: في اللغة، ما ثبت ووجب ... ثابت لا شك فيه. معجم الرائد اللغوي صــ ۸۶۲. و الوفاء بالحقوق صــ ۲.

۲- «الْحَقُّ الْمَوْجُودُ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ الَّذِي لَا رَيْبَ فِيهِ فِي وُجُودِهِ وَمِنْهُ السِّحْرُ حَقٌّ وَالْعَيْنُ حَقٌّ أَيْ مَوْجُودٌ بِأَثَرِهِ» كشف الأسرار شرح أصول البزدوي جــ ٤ صــ ۱۳٤. و الموسوعة الفقهية الكويتية جــ ۱۸ صــ ۸.

۳- فَوَجَبَ عَلَى الْقَاضِي أَنْ يُجِيبَهُ إلَيْهِ؛ لِأَنَّهُ نُصِبَ لِإِيصَالِ الْحُقُوقِ إلَى أَهْلِهَا. تبيين الحقائق جـ ٥ صــ ۲٦۹. المبسوط للسرخسي جــ ۱٦ صــ ٦۰. البحر الرائق جــ ٦ صــ ۲۸۷. درر الحكام في شرح مجلة الأحكام جــ ٤ صــ ٥۸۲ .

٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ... « كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ، دَمُهُ، وَمَالُهُ، وَعِرْضُهُ » صحيح مسلم جــ ٤ صــ ۱۹۸٦.

٥- «يحرم الاعتداء على النفس بالقتل أو ما دونه، والاعتداء على المال بالسرقة والغصب وغير ذلك، والاعتداء على العِرض

**په ناحقه د يو چا مال اخيستلو سزا**

صحيح بخاري د ام سلمة (رضي الله عنها) په روايت د رسول اللهﷺ څخه حديث نقل کړی فرمايي: تاسو ماته خپلې لانجې /منازعات راوړئ چې ځينې له تاسو څخه د خولې د صفايې له امله د دليل په وړاندې کولو کې مهارت لرونکی وي، زه هم يو ستاسو په څېر انسان يم، په هغه څه به فيصله کوم، چې کوم شی واورم، که د يو ورور له حق څخه څه شی در کړل شول، مه يې اخله؛ ځکه د جهنم له اور څخه يوه قطعه جلا کوم.[١]

مطلب د خبرې دا شو د حديث شريف څخه معلومه شوه، که چېرې يو کس ته د ناحقه دعوې له امله او د خولې نرموالي په وجه، قاضي /حاکم ورته د ظاهري اوراقو په کتنه د بل شخص حق ورکړ او نوموړي واخيست؛ نو دا مال به ورته د جهنم د اور يوه حصه وګرځي.

**حق حقدار ته د نه سپارلو نقصانات**

١- د ظلم او فساد لمنه پراخېدل: که يو حق حقدار ته ونه رسېږي؛ نو په ټولنه کې به فساد او ظلمونه زيات شي.

٢- ثبات او امنيت له منځه تلل: کله هم چې د حکومت واکمنان د خلکو اړتياوې پوره نه کړي او حق حقدار ته ونه سپاري؛ نو د ټولنې بې ثباتی او د امنيت ړنګېدو سبب به شي.

٣- د نظام او واکمنی ړنګېدل: حق حقدار ته نه سپارل، د نظام استحکام‌والي ړنګېدو ته لاره هواروي.

نچوړ د خبرې دا شو چې حق حقدار ته بايد وسپارل شي؛ ترڅو چې د اسلامي نظام او ټولنې په منځ کې بې اتفاقي، شخړې او سرغړونې رامنځته نه شي، چې په پايله کې عدل په سمه توګه پلی او هر شخص خپل حقوق تر لاسه کړي.

**نهم حکمت: إقامة الحدود (حدود تطبيقول)**

حدود جمع د حد ده، حد په لغت کې منعې ته وايي او په اصطلاح کې له هغه مشخصو سزاګانو څخه عبارت دی چې په مشخصو جرمونو کې د شريعت له لوري تعين شوي وي.[٢]

دا چې اسلام د عدل دين دی، د ټولنې عزت، نسب او د دين د خوندي کولو لپاره يې داسې لارې ټاکلې، چې د عملي کولو په صورت کې ساتنه کېدلای شي، تېری کوونکي ته يې داسې قوانين ټاکلي، چې له امله يې کنټرول کېدلای شي او له ظلمونو څخه يې مظلوم وګړي نجات موندلای شي. دا چې د ټولنې د اصلاح لپاره شرعي حدود قايمول خورا ډېر اړين دي؛ نو د قضاء له حکمتونو څخه يو ستر حکمت د حدودو قايمول دي.[٣]

کله چې په ټولنه کې د حدودو څخه يو حد تطبيق شي، له يوې خوا همغه انسان چې حد پرې تطبيق شوی دی، په راتلونکي کې د جرم له ترسره کولو څخه ځان ساتي او په ټولنيزه توګه نور انسانان له داسې جرمونو څخه ځانونه ګوښه کوي، چې که موږ د يو چا په حياء، عزت،

بالسبِّ والشتم والغيبة والنميمة وغير ذلك» فتح القوي المتين في شرح الأربعين وتتمة الخمسين للنووي وابن رجب رحمهما الله. صـ ١٢٠.

١- عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ وَإِنَّكُمْ تَخْتَصِمُونَ إِلَيَّ، وَلَعَلَّ بَعْضَكُمْ أَنْ يَكُونَ أَلْحَنَ بِحُجَّتِهِ مِنْ بَعْضٍ، فَأَقْضِي عَلَى نَحْوِ مَا أَسْمَعُ، فَمَنْ قَضَيْتُ لَهُ مِنْ حَقِّ أَخِيهِ شَيْئًا، فَلاَ يَأْخُذْهُ فَإِنَّمَا أَقْطَعُ لَهُ قِطْعَةً مِنَ النَّارِ» صحيح البخاري جـ ٩ صـ ٦٩.

٢- الْحُدُودُ جَمْعُ حَدٍّ، وَهُوَ فِي اللُّغَةِ الْمَنْعُ، فِي الِاصْطِلَاحِ: عُقُوبَةٌ مُقَدَّرَةٌ وَجَبَتْ حَقًّا لِلَّهِ تَعَالَى. الإحكام شرح أصول الأحكام لابن قاسم: ٤ صـ ٣٠١. و الموسوعة الفقهية الكويتية: جـ ١٧ صـ ١٢٩. و الفقه على المذاهب الأربعة: جـ ٥ صـ ١١.

٣- الحكمة منه: ... وإقامة الحدود. الفقه الميسر جـ ١ صـ ٤١٧. و شرح مختصر خليل للخرشي: جـ ٣ صـ ١٠٩.

نسب او ژوند باندې ځاني او مالي تېرى وکړو، موږ هم له همداسې انجام سره مخامخ کېږو، چې په پايله کې ټولنه امن او سوکالي ترلاسه کولای شي.

دا چې د احکامو او حدودو تطبيق يو مهم او سخت کار دی؛ نو الله ﷻ يې په اړه داسې فرمايي: «او په دوی باندې د زړه سوي احساس دې د الله ﷻ د دين په باب په تاسې کې نه پارېږي».[۱]

که په الله ﷻ يقين لرئ؛ نو د هغه احکامو او د حدودو په اجرا او انفاذ کې هېڅ قسم تقديم، تأخير، سستيا، مهرباني، همدارنګه بې زړه توب مه کوئ، چې د مجرم يا له ځينو هغو سرکشو زورواکانو د فشارونو د تاثير لاندې راشئ، چې له امله يې په پلي کولو کې څه تنقيص يا غير مؤثرې او معمولي سزاوې ورکړئ، چې د سزا کيفيت په کې نه وي مراعات شوي.

**د حدودو د تطبيق فضيلت**

سنن نسائي د ابو هريره او سنن ابن ماجه د ابن عمر(رضي الله عنهما) په روايت له رسول اللهﷺ څخه حديث نقل کړی، فرمايي: د ځمکې پر مخ يو حد د حدودو څخه قايمول د دېرش، په بل روايت کې څلوېښتو (۴۰) شپو د باران څخه غوره دی.[۲]

علامة المناوي رحمه الله په فيض القدير کې د دې حديث په تشريح کې ليکلي: د دېرش يا څلوېښتو شپو د باران څخه د الله ﷻ پر ځمکه يو حد د حدودو څخه قايمول؛ ځکه غوره دي، چې باران سره ځمکه ژوندۍ کېږي، په عدل او حدودو پلي کولو سره اهل د ځمکې ژوندي کېږي.[۳]

خلاصه د خبرې دا شوه، لکه څرنګه چې د باران په وسيله د ځمکې د ټولو نباتاتو د را ژوندي کېدو راز پروت دی؛ همدارنګه د حدودو په تطبيق کې د انسانيت او بشريت ساتنې راز پروت دی؛ نو د الله ﷻ هر حکم، که سزا يې سخته وي او که آسانه، د ټولنې د اصلاح په مقابل کې د حکمت او د رحمت څخه خالي نه وي.

فلهذا د حدودو په تطبيقولو کې هر مسؤول/ قاضي ته اړينه ده، چې نوموړې حکمت ته ډېره پاملرنه وکړي، تر څو په ټولنه کې د مسلمانانو د وينې، مال او حياء ساتنه او په پايله کې عدالت تأمين شي.

**لسم حکمت: نشر الأمن في الأمة (په ټولنه کې امنيت خپرېدل)**

په ټولنه کې امنيت خپرېدل د خلکو د ژوند پرمختګ لپاره د مهمو اړتياوو څخه شمېرل کېږي؛ نو هر حيوان ناطق او که غير ناطق وي اړتيا ورته لري، تر څو خپل ژوند په هوساينې او راحت سره تېر کړي.[٤]

له همدې امله الشيخ ابو الحسن الماوردي رحمه الله په خپل کتاب الاحکام السلطانية کې د امام د واجباتو په

---

۱- {وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ} سورة النور، الآيه: ۲.

۲- قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: «إِقَامَةُ حَدٍّ بِأَرْضٍ خَيْرٌ لِأَهْلِهَا مِنْ مَطَرِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً» سنن النسائي جـ ۸ صـ ۷۶. عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِقَامَةُ حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ، خَيْرٌ مِنْ مَطَرِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً فِي بِلَادِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ». سنن ابن ماجه جـ۲ صـ ۸٤۸.

۳- (إقامة حد من حدود الله) أي على من فعل موجبه وثبت عليه بوجه لا احتمال معه ... لأن في إقامتها زجر الخلق عن المعاصي والذنوب وسببًا لفتح أبواب السماء بالمطر ... ولإن إقامة الحد عدل والعدل خير من المطر لأن المطر يحي الأرض والعدل يحي أهل الأرض ولأن في إقامة الحدود منع الفساد في الأرض بعد إصلاحها فناسب ذكر المطر لذلك ... فيض القدير جـ ۲ صـ ٥٦. السراج المنير جـ۱ صـ ۲٦۷.

٤- الحكمة من مشروعية القضاء ... ونشر الأمن في الأمة. توصيف الأقضية في الشريعة الإسلامية جـ ۲ صـ ۳۲۸.

هکله فرمايي: امام به په ملک کې امنيت راولي، د ملک د حريم ساتنه به کوي، تر څو خلک آرامه ژوند وکړي.[۱]

په يوه ملک کې د ټولنيز ژوند لپاره امن دومره اړين دی، چې انبياء کرامو (عليهم السلام) د خپلو امتونو لپاره له نورو نعمتونو څخه مخکې، د الله ﷻ له درباره د امن دعاء غوښتنه کړې، لکه: قرآن عظيم شان کې چې الله ﷻ د ابراهيم عليه السلام دعا ذکر کړې، فرمايي: «(ياد کړه اې (محمده ﷺ)! هغه وخت چې ابراهيم عليه السلام وويل: اې زما ربه! وګرځوه دا ښار (مکه مکرمه) ځای د امن.[۲]

اې الله ﷻ دا ښار ځای د امن وګرځوه تر څو يې اوسېدونکي امن او په سکون کې ژوند تېر کړي.[۳]

همدارنګه جنت ته چې کله جنتيان داخلېږي، هلته به الله ﷻ د ستر نعمت (امن) زېرى پرې وکړي، لکه فرمايي: جنتيانو ته به وويل شي چې (ننوځئ جنت ته په داسې حال کې چې تاسو به له هر قسمه آفاتو، د مرګ، مرض، وېرې او نورو مصيبتونو څخه به په امن کې ياست).[٤]

همدارنګه په بل ځای کې د جنتيانو په اړه فرمايي: (مؤمنان به د جنت په کورونو کې په داسې حال استوګن وي، چې له هر قسم آفاتو څخه به په امن او آرامه وي.)[٥]

د آياتونو مبارکو څخه راجوته شوه، چې امن نه يوازې دنيوي نعمت دی، بلکې د جنت له سترو نعمتونو څخه شمېرل کېږي؛ نو د امنيت ټينګښت لپاره اړينه ده، چې قضائي ارګانونه دې خپل مسؤوليتونه په سالمه توګه ترسره او مجرمينو ته دې د جرم موافق شرعي سزاګاني ورکړل شي، ترڅو جرم کوونکي وپوهېږي، چې مجرم ته سزا ورکول کېږي، چې له کبله به يې د جرمونو کچه ټيټه، ولس به له امن او سوکالۍ څخه برخمن شي.[٦]

---

۱- والذى يلزمه من الامور العامة عشرة اشياء: ... حماية البيضة (اى البلاد) والذب عن الحريم ليتصرف الناس في المعايش وينتشروا في الأسفار آمنين، (أي نشر الأمن) من تغرير بنفس او مال. الاحكام السلطانية. صـ ۲۲. و الإسلام و أوضاعنا السياسية صـــ ۲٤۷.

۲- {وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَلَدًا آمِنًا} سورة البقرة، الايه: ۱۲٦.

۳- بلداً ذا أمن يكون أهله في أمنٍ واستقرار... أي وارزق يا رب المؤمنين من أهله وسكانه من أنواع الثمرات، ليقبلوا على طاعتك ويتفرغوا لعبادتك. صفوة التفاسير جـ ۱ صـــ ۸۳. أَنَّ مَكَّةَ كَانَتْ حَلَالًا قَبْلَ دَعْوَةِ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَسَائِرِ الْبِلَادِ، وَأَنَّ بِدَعْوَتِهِ صَارَتْ حَرَمًا آمِنًا كَمَا صَارَتْ الْمَدِينَةُ بِتَحْرِيمِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آمِنًا بَعْدَ أَنْ كَانَتْ حَلَالًا. تفسير القرطبي جـ ۲ صـ ۱۱۸.

٤- {ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ آمِنِينَ} سورة الحجر، الايه ٤٦.

٥- {وَهُمْ فِي الْغُرُفَاتِ آمِنُونَ}سورة سبأ، الايه:۳۷. أي آمنون من العذاب والأسقام والأحزان. التيسير في أحاديث التفسير. ج ٥ ص۱۹٥.

٦ () (إقامة حد من حدود الله) أي على من فعل موجبه وثبت عليه بوجه لا احتمال معه ... لأن في إقامتها زجر الخلق عن المعاصي والذنوب وسببًا لفتح أبواب السماء بالمطر ... ولإن إقامة الحد عدل والعدل خير من المطر لأن المطر يحي الأرض والعدل يحي أهل الأرض ولأن في إقامة الحدود منع الفساد في الأرض بعد إصلاحها فناسب ذكر المطر لذلك ... فيض القدير جـ ۲ صـ ٥٦. السراج المنير جـ۱ صـ ۲٦۷.

# برتری نظام قضائی اسلام
# مطالعه‌ای تطبیقی با نظام‌های حقوقی وضعی

مفتی سید نورمحمد محبی کورابی[1]

**الملخص**

يهدف هذا البحث إلى بيان مميزات النظام القضائي في الإسلام، ومقارنته بالأنظمة القانونية الوضعية. يظهر البحث أنّ النظام القضائي الإسلامي يتميز بجملة من الخصائص؛ منها: العدالة المطلقة، والمساواة أمام القانون، واستقلال القاضي، وارتباط القانون بالأخلاق، وسرعة البتّ في القضايا، وجامعية المصادر الشرعية، والوقاية من الجرائم قبل وقوعها، فضلاً عن العناية بحقوق المتهم والمجني عليه. كما يستعرض البحث أمثلة من التطبيق العملي في عهد النبي ﷺ والخلفاء الراشدين الأربعة، ويقارنها بمظاهر القصور في الأنظمة الحديثة. خلص البحث إلى أنّ النظام القضائي الإسلامي نظام رباني شامل، صالح لكل زمان ومكان، ويحقق العدالة الحقيقية بصورة أوسع مما تحققه القوانين الوضعية.

**خلاصه**

هدف این تحقیق بیان خصوصیات نظام قضائی در اسلام و مقایسهٔ آن با نظام‌های حقوقی وضعی است.

نتایج تحقیق نشان می‌دهد که نظام قضائی اسلامی دارای مجموعه‌ای از خصوصیات ذیل می‌باشد، از جمله: عدالت مطلق، برابری در برابر قانون، استقلال قاضی، پیوند قانون به اخلاق، سرعت در رسیدگی به دوسیه ها، جامعیت منابع شرعی، پیشگیری از وقوع جرایم و همچنین توجه خاص به حقوق متهم و شاکی و نیز تحقیق به نمونه‌هایی از اجرای عملی این نظام در دوران پیامبر اکرم ﷺ و خلفای راشدین ﷺ اشاره کرده و آن را با کاستی‌های نظام‌های معاصر مقایسه می‌کند. در نهایت، تحقیق نتیجه می‌گیرد که نظام قضائی اسلامی نظام الهی و جامع است که برای هر زمان و مکان قابل استفاده بوده و عدالت حقیقی را به صورت گسترده‌تری نسبت به قوانین وضعی محقق می‌سازد.

**کلمات کلیدی**

نظام قضائی اسلام، عدالت، مقایسهٔ تطبیقی و استقلال قاضی.

**مقدمه**

نظام قضائی هر جامعه بیانگر ارزش‌ها و مبانی فکری آن است، نظام‌های حقوقی وضعی، هر چند با شعار تأمین عدالت و نظم اجتماعی شکل گرفته‌اند؛ اما کاملا تحت تأثیر منافع سیاسی، طبقاتی و نسبی‌گرایی فرهنگی قرار دارند. در مقابل، اسلام به عنوان دین الهی، نظام قضائی ارائه کرده است که هم از نظر مبانی نظری و هم در عرصهٔ عملی، جامع و پایدار است.

[1]- مشاور مرکز بانکداری اسلامی علوم اکادمی افغانستان

قرآن کریـم، سـنت نبـوی و آثـار فقهـای کـرام، چارچـوب روشـنی بـرای عدالـت قضائـی ترسـیم کرده‌اند. ایـن مقاله بـا منهـج تطبیقـی، برتری نظام قضائـی اسلام را نسـبت به نظام‌هـای بشـری بررسـی می‌کنـد.

**عدالت به عنوان اساس نظام قضائی**

عدالـت در اسـلام نه‌تنها یـک ارزش اجتماعـی؛ بلکه فرمان الهـی اسـت، قـرآن کریم بارهـا در آیات متعـددی به اجرای عدالـت حتـی در برابـر دشـمنان نیـز تأکیـد کـرده اسـت، چنانکـه میفرمایـد: «يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلْقِسْطِۖ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَـَٔانُ قَوْمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعْدِلُواْۚ ٱعْدِلُواْ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعْمَلُونَ» [المائدة/ ٨].

ترجمـه: «ای کسـانی کـه ایمـان آورده ایـد! بـر انجـام واجبـات الهی مواظبت داشـته باشـید و بـه عدالت گواهی دهیـد و دشـمنی گـروه و قومـی شـما را بـر آن وانـدارد کـه عدالـت نکنیـد، عدالـت کنیـد کـه عدالـت بـه پرهیـزگاری نزدیکتـر اسـت و از اللـه بترسـید، همانـا اللـه بـه آنچـه مـی کنیـد آگاه اسـت».

«إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُ بِٱلْعَدْلِ وَٱلْإِحْسَٰنِ» [النحل/ ٩٠]

ترجمـه: «بـه راسـتی خداونـد بـه عدالـت و نیکـوکاری و بخشـش بـه خویشـاوندان فرمـان میدهـد».

«إِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ ٱلنَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِٱلْعَدْلِۚ إِنَّ ٱللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِۦٓۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ سَمِيعًۢا بَصِيرًا» [النساء/ ٥٨]

ترجمـه: «و هنگامـی که میان مـردم داوری میکنید عادلانه داوری کنیـد، همانـا خداونـد شـما را بـه بهتریـن انـداز پنـد میدهـد، همانـا خداونـد شـنوا و بینـا اسـت».

فقهـای کـرام نیـز روی ایـن مسـأله تأکیـد دارنـد، چنانکـه علامـه ابـن همـام (رحمـه اللـه) مینـگارد: «وحاصـل مـا هنـا أنـه إن لـم يأمـن علـى نفسـه الحيـف: أي الجـور أو عـدم إقامـة العـدل كـره لـه الدخـول كراهـة تحريـم لأن الغالـب الوقـوع فـي محظـوره حينئـذ».١

«و نتیجـهٔ آن‌چـه در این‌جـا آمـده، ایـن اسـت کـه اگـر شـخص بـر جـان خـود از سـتم، یعنـی ظلـم یـا برپـا نشـدن عدالـت، مطمئـن نباشـد، بـرای او ورود (بـه قضـاء) مکـروه تحریمـی اسـت؛ زیـرا در چنیـن حالتـی، افتـادن در حـرام معمـولاً غالـب و محتمـل اسـت».

در نظام‌هـای حقوقـی وضعـی و نظامهـای سـیکولر، عدالـت نسـبی و تابـع قـرارداد اجتماعـی اسـت؛ در حالـی کـه در اسـلام مطلـق و فراتاریخـی اسـت.

**مساوات در برابر قانون**

یکـی دیگـر از بزرگ‌تریـن امتیـازات نظـام قضائـی اسـلام، اصـل «مسـاوات» اسـت، هیچ‌کـس حتـی نزدیک‌تریـن افـراد بـه پیامبـر ﷺ فراتـر از قانـون نیسـتند. پیامبـر اکـرم ﷺ بـرای دختـر گرامـی خویـش نیـز اسـتثنا قائـل نشـدند، چنانکـه در حدیـث ذیـل آمـده اسـت: از حضـرت عایشـه (رضی‌اللهعنها) روایـت شـده اسـت کـه فرمـود: مسـألهٔ زنـی از بنـی مخـزوم کـه مرتکـب سـرقت شـده بـود، قریـش را نگـران سـاختند و در میـان خـود گفتنـد: چـه کسـی دربـارهٔ (صـرف نظـر کـردن از اجـرای حـد) او بـا پیامبـر ﷺ صحبـت کنـد و گفتنـد: چـه کسـی جـرأت دارد جُـز اسـامه بـن زیـد (رضی‌اللهعنـه) کـه محبـوب پیامبـر ﷺ اسـت و اسـامه (رضی‌اللـه عنـه) (در ایـن مـورد کـه دسـت آن زن قطـع نشـود) بـا پیامبـر ﷺ صحبـت کـرد؛ پیامبـر ﷺ فرمودنـد: «آیـا بـرای جلوگیـری از اجـرای حـدی از حـدود خداونـد میانجیگـری میکنـی؟ سـپس برخاسـتند و خطبـه ایـراد کـرده و فرمودنـد: «ای مـردم! اقوامـی که قبل از شـما بودنـد، فقـط بـه ایـن دلیـل هـلاک شـدند کـه آنـان در میـان خودشـان هـرگاه کسـی بـزرگ و صاحـب منزلـت مرتکـب دزدی میشـد، او را رهـا میکردنـد و اگـر فردی ضعیـف دزدی میکـرد، بـر او حـد جـاری میسـاختند.

١-- فتح القدير للكمال بن الهمام، كتاب أدب القاضي، - ط الحلبي، ج ٧، ص ٢٦٠.

«والـذي نفـس محمـد بيـده، لـو أن فاطمـة بنـت محمـد سرقت لقطعت يدها»

بـه اللـه سـوگند، اگـر فاطمه دختـر محمد هـم دزدی کند، دسـتش را قطع خواهـم کرد.[1]

**نمونهٔ عدالت نبوی در سیرهٔ قضائی خلفاء**

واقعـهٔ تاریخـی زیـر، نشـان می‌دهـد کـه عدالـت اسـلامی چگونـه عملـی و بـدون تبعیـض میباشـد:

"شَـعبی (رحمه‌اللـه) روایـت کـرده اسـت: علـی (رضی‌اللهعنـه) زره ای را نـزد یـک نصرانـی یافـت و آن را بـا خـود نـزد شُـریح (قاضـی) بـرد و در کنـار او نشسـت و گفـت: «اگـر طـرفِ دعوایـم مسـلمان می‌بـود، او را هم‌رتبهٔ خـود می‌دانسـتم». سـپس گفـت: «ایـن زره از من اسـت!» نصرانـی گفـت: «نـه، ایـن زره از مـن اسـت» و افـزود: «آیـا امیرالمؤمنیـن دروغ می‌گویـد؟»

شریح (رضی‌اللهعنـه) بـه حضـرت علـی (رضی‌اللهعنـه) گفـت: «آیـا بـرای ادعای‌تـان شـاهدی داریـد؟»

علـی (رضی‌اللهعنـه) فرمـود: «نـدارم» و در عیـن حـال لبخنـد زد.

در نتیجـه، قاضـی حکـم داد که زره به نصرانـی تعلق دارد. نصرانـی بـا زره چنـد قدمـی دور شـد؛ اما سـپس بازگشـت و گفـت: «گواهـی می‌دهـم کـه این‌گونـه قضـاوت، قضاوت پیامبـران اسـت. امیرالمؤمنیـن مـن را نـزد قاضـی‌اش برد، و قاضـی‌اش بـه نفـع من علیـه او حکم کرد!». آنگاه اسـلام آورد و اعـتراف کـرد کـه آن زره هنـگام حرکـت حضـرت علی (رضی‌اللهعنـه) به‌سـوی صفیـن از او افتـاده بـوده اسـت. حضـرت علـی (رضی‌اللهعنه) از اسـلام آوردن او خوشـحال شـد و زره و اسـپی را بـه او بخشـید؛ پـس از آن، آن مـرد در جنـگ بـا خـوارج در کنـار علـی (رضی‌اللهعنـه) شرکـت کـرد.[2]

در نظام‌هـای معاصـر و قوانیـن وضعـی، اگرچـه بـه ظاهـر اصـل برابـری در قوانیـن تصریـح می‌شـود؛ امـا در عمـل همیشـه و در همـه جـا تبعیـض طبقاتـی، نفـوذ سیاسـی و اقتصـادی باعـث نقـض آن می‌گـردد.

**پیوند قانون با عقیده و اخلاق**

| ۳ | جوزجان | ۸٦ | ۸ | ۷۷ | ٦۲٤ | ۹۱ | ٦۹٥ | ۱٥۸۱ | ۸٦ | ۳۰۱ | ٦۹۲ | ۳۰۰ | ۲۰۲ | ۲ | ۳ | ۳۸ | ٦٥ | ۱۰۸ | ۸ | ۱۷ | ۱٦ | ۳٦ | ۳۱ |
| ٤ | ننگرهار | ۷۱ | ٤ | ۲۰ | ۱۰۸۹ | ۱۱۷ | ۱۸۸۱ | ۳۱۸۲ | ۲٥ | ٤۷۷ | ٤٤۲ | ٥٥۱ | ۱٦۸۷ | ۱۰ | ٦ | ۳٤٦ | ٥۱٤ | ۸۷٦ | ٥۲ | ۳۷۹ | ۱۱۱ | ٥۷ | ۲۷۷ |
| ٥ | بغلان | ۱۷۳ | ۳ | ۳ | ۲۰۸٦ | ۱۰٤ | ٤٥٦ | ۲۸۲٥ | ۱٥۸ | ٦۲۷ | ۷۹٥ | ٦۳۸ | ٦۰۷ | ۸۳ | ۰ | ۳۱٦ | ۳٦ | ٤۳٥ | ۷ | ۲٥۸ | ۱۹ | ۸٤ | ٦۷ |
| ٦ | بادغیس | ٦۲ | ٥ | ۱۰٤ | ۲۳٤۱ | ۳٦۷ | ٤٤٤ | ۳۳۲۳ | ۳٦ | ۸۹۸ | ۸۰۷ | ۹۲٥ | ٦٥۷ | ۱ | ۰ | ٤۸٦ | ۱٥ | ٥۰۲ | ۰ | ۲۳٥ | ٦۲ | ۱٥۹ | ٤٦ |
| ۷ | کندز | ٦۷ | ۱۷ | ۷۳ | ۱۲۱٦ | ۹۸ | ۱۲۰۹ | ۲٦۸۰ | ٤۸ | ٥۷۸ | ۹۳۸ | ۷۲۱ | ۳۹٥ | ۷۲٥ | ۷۹٤ | ٤٥۹ | ۱۷۷ | ۲۱٥٤ | ۱۹ | ۱۷٦۲ | ٤٤ | ٦٥ | ۲٦٤ |
| ۸ | فراه | ۰ | ۰ | ۰ | ٥۸٦ | ۱۱۸ | ۳٤۰٤ | ٤۱۰۸ | ٥ | ۷۳۰ | ۱۲۱۰ | ۸٥۲ | ۱۳۱۱ | ۰ | ۳۰ | ۱ | ۲۰ | ٥۱ | ۰ | ٥ | ۰ | ۳۰ | ۱٦ |
| ۹ | لغمان | ۸۱ | ۳ | ۱ | ۱۱٦٤ | ٤۷ | ۰ | ۱۲۹٦ | ۱۱ | ٦۰٥ | ٤۳٥ | ٤۰ | ۲۰٥ | ٦٤ | ۰ | ۲۰۰ | ۰ | ۲٦٤ | ۰ | ۷۲ | ۹ | ٥۸ | ۱۲٥ |
| ۱۰ | ارزگان | ٦٥ | ۱ | ۱٦ | ٤٦۷ | ۹ | ۱۰٤ | ٦٦۲ | ۸ | ۲۸٤ | ۱٤٤ | ۱۳۳ | ۹۳ | ۱٥ | ۳ | ۱۱۹ | ۲۸ | ۱٦٥ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱۰٦ | ٥۹ |
| ۱۱ | پکتیا | ٤۷٥ | ٥ | ٤ | ۱۲۷۸ | ٤٦ | ۸۱ | ۱۸۸۹ | ٥٤ | ۳۲۹ | ۳۷٦ | ٤۱۰ | ۷۲۰ | ۳۱۷ | ٥ | ۲٦۱ | ٦ | ٥۸۹ | ٤٤ | ٥۷ | ٦۱ | ۷۲ | ۳٥٥ |
| ۱۲ | دایکندی | ۸۳ | ٥ | ۳٦ | ٤۸۰ | ٥٤ | ۷٤ | ۷۳۲ | ٤ | ۱٥۲ | ۲۰۷ | ۲۰٤ | ۱٦٥ | ۲ | ۰ | ٥۸ | ۱ | ٦۱ | ۰ | ٤٤ | ۱ | ۱٤ | ۲ |
| ۱۳ | غور | ۷٦ | ۲ | ۷۰ | ۱۸۲٤ | ۹۸ | ٥۸۰ | ۲٦٥۰ | ۷ | ۱۹۱ | ۲۱۷ | ۱۷٥ | ۲۰٦۰ | ۲ | ۲ | ۲٥۹ | ۲٤ | ۲۸۷ | ۷ | ۲۳۱ | ٦ | ۳۰ | ۱۳ |
| ۱٤ | وردک | ۱۳۳ | ۲ | ۱۳ | ۸۹٦ | ۱۳ | ۱۰۱ | ۱۱٥۸ | ۲۰ | ۲۹۲ | ۳۸۱ | ۲۲۳ | ۲٤۲ | ٥ | ۰ | ۱۲۳ | ۱۷ | ۱٤٥ | ۸ | ٥۹ | ۱٥ | ۳٦ | ۲۷ |
| ۱٥ | پنجشیر | ۸٥ | ۱ | ۱ | ۳۰۳ | ۳ | ٥ | ۳۹۸ | ۳ | ۹۹ | ۱۳۸ | ۷٥ | ۸۳ | ٤۸ | ۱ | ۱۹٦ | ۱ | ۲٤٦ | ٤۰ | ٤۷ | ٦۹ | ٥۱ | ۳۹ |
| ۱٦ | بامیان | ٤ | ۰ | ۲ | ٥٤۲ | ۲٥ | ۳۸۱ | ۹٥٤ | ۹ | ۱٦۱ | ۳٤۷ | ۲۰۷ | ۲۳۰ | ۱٦ | ۸۱ | ۱۳٥ | ٦۲ | ۲۹٤ | ٤ | ۱۳٦ | ۱۷ | ۳۷ | ۱۰۰ |
| ۱۷ | سرپل | ۳۹ | ۰ | ۹ | ۱۰٦۸ | ۱۳۸ | ۳۸۰ | ۱٦۳٤ | ۲۳ | ٤۰٦ | ٤۰۲ | ۳۸٦ | ٤۱۷ | ۹ | ۰ | ٤۷ | ٦ | ٦۲ | ۱ | ۱٦ | ٥ | ۱۰ | ۳۰ |
| ۱۸ | تخار | ۳ | ۰ | ۱ | ۲۰٥۰ | ۳۹٦ | ۱۱٥٦ | ۳٦۰٦ | ٤۱ | ٦٤٤ | ۱۱٥۷ | ۸۱۳ | ۹٥۱ | ۰ | ۰ | ٥۲٦ | ۱٦۰ | ٦۸٦ | ۲۳ | ٤۷۱ | ٥۱ | ٦٦ | ۷٥ |
| ۱۹ | پروان | ۰ | ۰ | ۰ | ۷۱٦ | ۱۲۳ | ۸٥۹ | ۱٦۹۸ | ۱۰ | ۳۹۲ | ٥٦۹ | ۳۱۸ | ٤۰۹ | ۰ | ۰ | ۲۳۷ | ۱٦۷ | ٤۰٤ | ۲۰ | ۲۳۳ | ۳۲ | ۷۲ | ٤۷ |
| ۲۰ | بلخ | ۱۹٥ | ۸ | ۱۳۹ | ۱٦۰۳ | ۱٤٤ | ۱٤۲٤ | ۳٥۱۳ | ۸٤ | ۳۷۱ | ۸۲۷ | ۸۲۷ | ۱٤۰٤ | ۱٦۲ | ٤٤ | ۱۲۸۳ | ۱۹٤ | ۱٦۸۳ | ۱۲٤ | ٥۷٤ | ۳۲۸ | ۸۸ | ٥٦۹ |
| ۲۱ | غزنی | ۳٦۸ | ۱٥ | ۲٦٥ | ۱٦۱۲ | ۷۲ | ۹٦۲ | ۳۲۹٤ | ٦٦ | ۷٦۳ | ۱۲٥۱ | ٥٤۸ | ٦٦٦ | ٦۳ | ٥٥ | ۱۳۱ | ۱۲۷ | ۳۷٦ | ۲۳ | ٤٦ | ۲٥ | ۱٦۷ | ۱۱٥ |
| ۲۲ | نورستان | ۳٤ | ۳ | ۰ | ۳٤۰ | ۲٤ | ٥ | ٤۰٦ | ۰ | ۹۰ | ۱۸۲ | ۳۰ | ۱۰٤ | ۰ | ۰ | ٦۰ | ۰ | ٦۰ | ۱ | ۱٤ | ۱۲ | ۱۳ | ۲۰ |
| ۲۳ | فاریاب | ۲۲۳ | ۲۲ | ۱۹۹ | ۱٤۷۹ | ۱۳۹ | ۱٦٤٥ | ۳۷۰۷ | ٦۹ | ٦۱۸ | ۱۲٤۱ | ۸۹٥ | ۸۸٤ | ۷ | ۱۱ | ۳۹ | ٥٤ | ۱۱۱ | ۲۸ | ٥ | ۸ | ۳۹ | ۳۱ |
| ۲٤ | سمنگان | ۲٦٤ | ٤ | ۱٦ | ۱۰٤۰ | ٤۹ | ۱۲۱ | ۱٤۹٤ | ۳۱ | ۲۳۱ | ٦٥۸ | ۷۷٥ | ۲۹۹ | ٥٦ | ۱ | ۳۷٦ | ۱٥ | ٤٤۸ | ۷۲ | ۲۰۱ | ٥۷ | ۷٤ | ٤٤ |
| ۲٥ | زابل | ۰ | ۰ | . | ۳۹۷ | ۲ | ۲۰ | ٤۱۹ | ۲ | ۱٤۱ | ۱٥ | ۱۱۷ | ۱٤٤ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۲٦ | لوگر | ۲۹۸ | ۰ | ۰ | ۳۸۹ | ۲۳ | ۱٤۰ | ۸٥۰ | ۱٥ | ۱٤٦ | ۱۳٤ | ٦٦ | ٤۸۹ | ۱۷ | ۲۰ | ٤٦ | ٤۷ | ۱۳۰ | ۰ | ٥۰ | ۲ | ٥۲ | ۲٦ |
| ۲۷ | کاپیسا | ٤۸ | ۰ | ٤۳ | ۹٤۰ | ۱٦۸ | ٥٥۸ | ۱۷٥۷ | ٥۲ | ٤۱٦ | ٥۰۳ | ۳۱۱ | ٤۷٥ | ۱ | ۱ | ۲٦٤ | ۱۲۰ | ۳۸٦ | ٥۱ | ۱۰۳ | ٦۸ | ۱۲٥ | ۳۹ |
| ۲۸ | بدخشان | ۲۸۹ | ۲۱ | ٦۰ | ۱۹۰۹ | ۲۱۰ | ۷۰۱ | ۳۱۹۰ | ۲۹ | ۷۱۸ | ۱۰۹۳ | ٥۸۹ | ۷٦۱ | ۱٥ | ٤ | ٦٦۳ | ۱۲۰ | ۸۰۲ | ۳۲ | ٥٤٦ | ۹۲ | ٥۱ | ۸۱ |
| ۲۹ | هلمند | ٤۲ | ٥ | ٥۰ | ٦۹۷ | ٤۲ | ۸۲۲ | ۱٦٥۸ | ٥۸ | ٥٤۳ | ٤۱۲ | ٤٦۷ | ۱۷۸ | ۱۹ | ۰ | ۱٦ | ۷٤ | ۱۰۹ | ۰ | ۰ | ۰ | ۳۰ | ۷۹ |
| ۳۰ | کندهار | ٤٤ | ۱۱ | ۲٥ | ۲٤٦٥ | ۲۹٦ | ۱۸٤۷ | ٤٦۸۸ | ٥۲ | ۷۷۷ | ۷۹۱ | ۱۱۳۰ | ۱۹۳۸ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۳۱ | هرات | ۱٥٤۹ | ۱٦٤٦ | ۱٤۹۱ | ٥۲٦۸ | ٤۰٦٥ | ۸۳۳۷ | ۲۲۳٥٦ | ۲۰۷۳ | ۲۷٤۱ | ۸٦۱۸ | ۲۳٦۳ | ٦٥٦۱ | ۸۹ | ٦۷ | ٤٤۳ | ۳۰۱ | ۹۰۰ | ٦۷ | ۱٥۹ | ۳٤٤ | ۱۱۰ | ۲۲۰ |
| ۳۲ | نیمروز | ۸۲۰ | ۱٥ | ۱٦۷۹ | ۲٦٦ | ۳۳ | ۲۱۱۷ | ٤۹۳۰ | ٤ | ۱۹۸ | ۱٤۷۱ | ٦۸۲ | ۲٥۷٥ | ۰ | ٥ | ٦ | ۲۲ | ۳۳ | ۰ | ۰ | ۱۲ | ۱۲ | ۹ |
| ۳۳ | کنرها | ۲۳۹ | ٤ | ۱۱۷ | ۱۰۰۳ | ۱۲ | ۳۹٥ | ۱۷۷۰ | ٤٤ | ٤۲۸ | ٦۳۸ | ۱٥۷ | ٥۰۳ | ۱۷ | ۱ | ۱٦٦ | ٦٤ | ۲٤۸ | ٦۱ | ۸۹ | ۸ | ٤۲ | ٤۸ |
| ۳٤ | خوست | ۹۱ | ۰ | ۷ | ٤٤۸ | ۳۱ | ۳۰٦ | ۸۸۳ | ۱۰ | ۱٦۷ | ۱۹۹ | ۲۸۲ | ۲۲٥ | ۹ | ۰ | ۹۲ | ۰ | ۱۰۱ | ۱۸ | ۲ | ٤ | ۱۸ | ٥۹ |
| مجموع عمومی | | ٦٥۳۷ | ۱۸۸۸ | ٤۷۳۲ | ٤۲٥٦٥ | ۷۸۷٤ | ۳٦۱۱۲ | ۹۹۷۰۸ | ۳٥۳۳ | ۱٦٤۲۳ | ۳۱٤٤۳ | ۱۷٥٦۰ | ۳۰۷٤۹ | ۲۱۰۸ | ۱۲٥۱ | ۸٥۱٥ | ۳٦۹٦ | ۱٥٥۷۰ | ۱۰۱۸ | ٦۹۷٥ | ۱۹۱٤ | ۱۸٥٦ | ۳۸۰۷ |

| فارمت توحیدی گزارش اختصاصی دسترسی زنان به حق میراث و مالکیت از محاکم مرافعه ولایات ملک بابت ربع اول سال ۱۴۴۷هـ ق | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | ولایات | نوعیت قضایا | قضایا ی تحت دوران از ربع گذشته | قضایای وارده جدید | مجموعه قضایا | قضایای رسیده گی شده | قضایای باقی مانده |
| ۱ | کابل | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۱۱ | ۵ | ۱۶ | ۹ | ۷ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۲ | هرات | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۱۵ | ۱۰ | ۲۵ | ۱۸ | ۷ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت که بنام زن مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۳ | بلخ | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۰ | ۱۱ | ۱۱ | ۱۱ | ۰ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۲ | ۲ | ۲ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۴ | جوزجان | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۴ | ۸ | ۱۲ | ۵ | ۷ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۵ | سمنگان | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۱ | ۲ | ۳ | ۲ | ۱ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۶ | پروان | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۲ | ۷ | ۹ | ۳ | ۶ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰۰ | ۰ |
| ۷ | کاپیسا | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۴ | ۲۰ | ۲۴ | ۱۳ | ۱۱ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | بغلان | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۱۳۷ | ۴۵ | ۱۸۲ | ۶۹ | ۱۱۳ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۹ | کندز | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۳ | ۳۱ | ۳۴ | ۱۶ | ۱۸ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۱۰ | سرپل | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۵ | ۱ | ۶ | ۵ | ۱ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۲ | ۳ | ۵ | ۲ | ۳ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۵ | ۰ | ۵ | ۵ | ۰ |
| ۱۱ | زابل | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۱ | ۴ | ۵ | ۴ | ۱ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۱۲ | ارزگان | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۴ | ۵ | ۹ | ۹ | ۰ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۱۳ | میدان | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۰ | ۲ | ۲ | ۱ | ۱ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۱۴ | پنجشیر | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت که بنام زن مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۱۵ | خوست | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۱۶ | غزنی | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۱۳ | ۵ | ۱۸ | ۷ | ۱۱ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١٧ | لوگر | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ١ | ٢ | ٣ | ١ | ٢ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| ١٨ | لغمان | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ٢ | ٣ | ٥ | ٤ | ١ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| ١٩ | پکتیا | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ٢ | ١ | ٣ | ١ | ٢ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| ٢٠ | هلمند | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ٦٨ | ٢٤ | ٩٢ | ٣٣ | ٥٩ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | |
| ٢١ | کنرها | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| ٢٢ | فراه | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ٢ | ١ | ٣ | ٣ | ٠ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| ٢٣ | فاریاب | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ٧٥ | ٨٣ | ١٥٨ | ٩٣ | ٦٥ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ٢٥ | ١٢ | ٣٧ | ٢٣ | ١٤ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| ٢٤ | نیمروز | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| ٢٥ | بدخشان | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ٨ | ٥ | ١٣ | ٤ | ٩ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۶ | تخار | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۱۳ | ۷ | ۲۰ | ۶ | ۱۴ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۲ | ۰ | ۲ | ۰ | ۲ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۲۷ | نورستان | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۰ | ۱ | ۱ | ۱ | ۰ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۲۸ | بامیان | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۴ | ۳ | ۷ | ۵ | ۲ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۲۹ | غور | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۴ | ۲ | ۶ | ۵ | ۱ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۳۰ | بادغیس | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۱ | ۱۳ | ۱۴ | ۷ | ۷ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۲ | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۳۱ | دایکندی | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۱ | ۵ | ۶ | ۶ | ۰ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۳۲ | پکتیکا | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | | ۰ |
| ۳۳ | کندهار | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۴۱ | ۱۷ | ۵۸ | ۴۶ | ۱۲ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۳۴ | ننگرهار | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۲ | ۲ | ۴ | ۲ | ۲ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۲ | ۰ | ۲ | ۰ | ۲ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد. | ۱ | ۰ | ۱ | ۰ | ۱ |
| | | مجموع عمومی | ۴۶۱ | ۳۴۴ | ۸۰۵ | ۴۲۳ | ۳۸۲ |

تعداد قضایای رسیدگی شده مواد مخدر به شمول قضایای تحت کار

طی ربع اول سال ۱٤٤۷ هـ ق

| شماره | مرحله | نوعیت قضایا | | مجموع قضایا | قضایای رسیدگی شده | قضایای تحت کار | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | مرحله ابتدائیه | مواد مخدر | قاچاق | ۷٤۰ | ۵۵۲ | ۱۸۸ | |
| | | | استعمال | ٦۲۷ | ۵۳۳ | ۹٤ | |
| | | | خرید و فروش | ۱۱۵۰ | ۸۷۳ | ۲۷۷ | |
| | | | تولید | ۱۵۳ | ۱۱٤ | ۳۹ | |
| ۲ | مجموع | | | ۲٦۷۰ | ۲۰۷۲ | ۵۹۸ | |
| ۳ | مرحله مرافعه | مواد مخدر | قاچاق | ٦۰ | ۵٦ | ٤ | |
| | | | استعمال | ٦۰ | ۵۲ | ۸ | |
| | | | خرید و فروش | ۱٤٦ | ۱۲٤ | ۲۲ | |
| | | | تولید | ٤۲ | ۳۷ | ۵ | |
| ٤ | مجموع | | | ۳۰۸ | ۲٦۹ | ۳۹ | |
| ۵ | مرحله تمیز | مواد مخدر | قاچاق | ۱۹ | ۱٦ | ۳ | |
| | | | استعمال | ۰ | ۰ | ۰ | |
| | | | خرید و فروش | ۱ | ۱ | ۰ | |
| | | | تولید | ۲ | ۱ | ۱ | |
| ٦ | مجموع | | | ۲۲ | ۱۸ | ٤ | |
| ۷ | مجموع کل | | | ۳۰۰۰ | ۲۳۵۹ | ٦٤۱ | |

## دویمه برخه:
## د ١٤٤٧ هـ ق کال د لومړۍ ربعې اړوند د سترې محکمې د مرکزي رياستونو د تر سره شویو فعالیتونو راپور

### قضائي معاونيت

د سترې محکمې قضائي معاونيت د ۱۴۴۷هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱ـ د سترې محکمې قضائي معاونيت ته د اسلامي امارت له بېلابېلو ادارو څخه د قضائي هدايت غوښتنې په موخه (۷۸۵) مکتوبونه راغلي، چې له ارزونې وروسته احکام شوي او د لارښوونو مطابق اړوند ادارو ته بېرته لېږل شوي دي.

۲ـ د سترې محکمې قضائي معاونيت د بېلا بېلو قضائي او اداري موضوعاتو اړوند (۶۳۸) مکتوبونه د قضائي معاونيت د هدايت مطابق صادر او اړوندو مراجعو ته لېږلي دي.

۳ـ د سترې محکمې قضائي معاونيت ته (۲۹۶۵) عريضې راغلې، چې له ارزونې او هدايت وروسته لازم اجراآت پرې شوي او له دې جملې (۷۸۶) عريضې مستردې شوې.

٤ـ د سترې محکمې قضائي معاونيت تر تائيد او تعديل وروسته (۲۹۶) د تعزير بالضرب دوسيې د (۳۸) ۴ /۶ /۱۴۴۶هـ ق نېټې متحدالمآل مطابق اړوند مراجعو ته لېږل شوې دي.

### د عالي مقام دفتر عمومي رياست

د سترې محکمې د عالي مقام دفتر عمومي رياست د ۱۴۴۷هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱ـ د سترې محکمې د عالي مقام دفتر عمومي رياست ته د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې د مرکز او ولايتونو له بېلابېلو ادارو، محاکمو او وزارتونو څخه (۳۴۴۰) مکتوبونه او وړانديزونه راغلي، چې له هدايت او اجراآتو وروسته اړوند ادارو ته بېرته لېږل شوي دي.

۲ـ د سترې محکمې د عالي مقام دفتر عمومي رياست د ۱۴۴۷هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې (۱۴۲۰) جزائي دوسيې د تعزيري سزاگانو د تطبيق په موخه اړوندو ادارو ته راجع کړې دي.

۳ـ د سترې محکمې د عالي مقام دفتر عمومي رياست لخوا د ۱۴۴۷هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) د فرمان مطابق په ټاکلي وخت د مياشتې د ليدلو هيئت ناستې جوړې او تنظيم کړې دي.

### د دارالانشاء عمومي رياست

د سترې محکمې دارالانشاء عمومي رياست د ۱۴۴۷هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

د دارالانشاء عمومي رياست په لومړۍ ربعه کې د محاکمو د تبديلۍ اړوند (٦٣٦) موضوعاتو، د استهداء اړوند (١٢٢) موضوعاتو، (٢٠٠) متفرقه موضوعاتو، د تنازع صلاحيت اړوند (٣٧) موضوعاتو، د قضاتو د تخلفاتو اړوند (١٤٠) موضوعاتو، د تجديد نظر اړوند (١٧٢) موضوعاتو او (٩) متحدالمآلونو ته چې په مجموع کې (١٣١٦) موضوعات کېږي؛ له اصولو سره سمه رسېدنه کړې ده.

## د دارالافتاء رياست

د سترې محکمې د دارالافتاء رياست د ١٤٤٧ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړې، چې جزئيات يې په لاندې ډول دي:

په لومړۍ ربعه کې د دارالافتاء رياست د بېلابېلو موضوعاتو په اړه (١٨) شرعي فتواوې صادرې کړې، چې له يادو فتواوو څخه د ټولو محاکمو قاضيان او قضائي غړي د شرعي لارښوونې په موخه استفاده کوي او د قضاياوو د حل او فصل لپاره مستند شرعي بنسټ جوړوي.

## د عالي مقام د تحريراتو رياست

د سترې محکمې عالي مقام د تحريراتو رياست د ١٤٤٧ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي، چې جزئيات يې په لاندې ډول دي:

١ـ په لومړۍ ربعه کې د تحريراتو رياست ته د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) (٤) قطعې فرمانونه، د رياست‌الوزراء (١٢٧) حکمونه او د کابينې (٧) قطعې مصوبات راغلي، چې د سترې محکمې د عالي مقام د لارښوونو له مخې د لازمو اجراآتو په موخه اړوندو مراجعو ته لېږل شوي دي.

٢ـ په لومړۍ ربعه کې د تحريراتو رياست ته د مخابراتو وزارت څخه (١٠٧٠) قطعې مکتوبونه راغلي او اړوندو شعبو ته توزيع شوي دي.

٣ـ په لومړۍ ربعه کې د تحريراتو رياست ته د وزارتونو، اماراتي ادارو، کمېسيونونو، د ملک له ٣٤ ولايتونو د محاکمو او نورو اړوندو ادارو څخه (٦٣٤) رسمي ليکونه راغلي، چې د سترې محکمې عالي مقام د هدايت له مخې اړوندو مراجعو ته د وروستيو اجراآتو لپاره لېږل شوي دي.

٤ـ په لومړۍ ربعه کې د تحريراتو رياست د سترې محکمې (٧) وړانديزونه د رياست‌الوزراء عالي مقام ته د منظورۍ او تصويب په موخه وړاندې کړي دي.

٥ـ په لومړۍ ربعه کې د تحريراتو رياست ته د رياست‌الوزراء عالي مقام، د فرمانونو او حکمونو د تعقيب او نظارت لوی رياست، وزارتونو، سازمانونو، شرکتونو، امارتي او غير امارتي بانکونو او د سترې محکمې مرکزي رياستونو له لورې (٩٢٣) مکتوبونه، د استهدا ځانګړي دوسيې، د تجديد نظر غوښتنې، د صلاحيت تفويض، د محکمې د تبديلۍ او د ملک بېلابېلو محاکمو د هدايت غوښتنې اړوند اسناد راغلي، چې د عالي مقام د هدايت له مخې اړوندو ادارو ته د اجراآتو په موخه سپارل شوي دي.

٦ـ په لومړۍ ربعه کې د تحريراتو رياست ته (١٢٦٠٣) قطعې مکتوبونه او پارسلونه د آرشيف له لارې صادر او وارد شوي، چې اړوندو ځانګو ته تسليم او لېږل شوي دي.

٧ـ په لومړۍ ربعه کې د تحريراتو رياست ته د ملک د ټولو ولايتونو له مرافعه محاکمو څخه (١٥٨) قطعې مکتوبونه د سترې محکمې د مخزن عمومي مديريت ته رسېدلي، چې له دې جملې (١٣٣) قطعې مکتوبونه د قبالو او نورو وثايقو د معلوماتو په اړه وو او اړوندو مراجعو ته معلومات ورکړل شوي، (٢٥) قطعې مکتوبونه چې ورسره (٤٥٣) جلده کتابونه د ( ١٤٠٠، ١٤٠١، ١٤٠٢ او ١٤٠٣ هـ ش) کلونو د وثايقو کلني راپورونه شامل وو، د ساتنې لپاره مخزن ته تسليم او ځای پر ځای شوي دي.

٨ـ په لومړۍ ربعه کې د تحريراتو رياست د (٥٨٦٤) مراجعينو عريضې د عالي مقام د هدايت پر اساس ثبت کړې او له اجراآتو وروسته خپلو صاحبانو ته بېرته سپارل شوې دي.

٩ـ په لومړۍ ربعه کې د تحريراتو رياست (١٧٨) دعوه کوونکو او د بهرنيو ادارو استازو ته چې د پارسلونو يا مکتوبونو ترلاسه کوونکي وو، د اړينو معلوماتو تر وړاندې کولو وروسته د هدايت مطابق اړوند شعبو ته لارښوونې شوي دي.

## د مرکزي تمیز عالي ریاست

د سترې محکمې مرکزي تمیز عالي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱ـ په لومړۍ ربعه کې د مرکزي تمیز عالي ریاست ته له محاکمو او بېلابېلو مرکزي او ولایتي ادارو څخه (۱۲۳۸) رسمي مکتوبونه راغلي، چې تر اجراآتو وروسته ېېرته اړوند مراجعو ته لېږل شوي دي.

۲ـ په لومړۍ ربعه کې د مرکزي تمیز عالي ریاست ته (۲۳۳۸) دوسیې را لېږل شوې؛ له دې جملې څخه (۷۱۱) د ځانګړو محاکمو دوسیې (د تېرې اداري د فیصلو په تړاو د قضائي هیئت لخوا) دي، چې (۱۵۰) دوسیې تائید، (۲۵۵) دوسیې نقض او (۱۳۵) دوسیې مستردې شوې دي.

۳ـ په لومړۍ ربعه کې (۱۶۲۷) دوسیې له اړونده مراجعو څخه د سترې محکمې د مرکزي تمیز عالي ریاست ته راغلې، له دې جملې څخه (۸۸۵) دوسیې د تمیز غوښتنې په موخه پنځه ګونو دېوانونو ته، (۲۵۰) حقوقي دوسیې، (۸۸) جزائي دوسیې او (۴۰۴) متفرقه دوسیې محاکمو او اړوند مرکزي او ولایتي ادارو ته د اجراآتو لپاره لېږل شوې دي.

۴ـ په لومړۍ ربعه کې (۲۵۵۱) عریضې یاد ریاست ته راغلې، چې له دې جملې څخه (۱۶۱۶) عریضې تر احکامو وروسته عارضینو ته تسلیم شوې، (۷۳۴) عریضې مستردې شوې او (۲۰۱) عریضې د اصحاب دعوی له دوسیو سره یو ځای شوې دي.

۶ـ په لومړۍ ربعه کې د یاد ریاست پنځو دېوانونو رئیسانو لخوا (۴۱۴) دوسیې د مشورې په موخه د مرکزي تمیز له رئیس سره شریکې شوې؛ له دې جملې څخه (۳۷۲) دوسیې تائید، (۴۲) دوسیې مستردې او د شرعي او قانوني فیصلو په موخه اړوندو مراجعو ته لېږل شوې دي.

## د قضائي زده کړو عمومي ریاست

د سترې محکمې قضائي زده کړو عمومي ریاست د ۱۴۴۷هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه اجرا کړي دي:

۱ـ په لومړۍ ربعه کې د قضائي زده کړو عمومي ریاست د هغو پنځو روزنیزو پروګرامونو چې د (۳۳) ولایتونو د محاکمو سلګونه اداري کارکوونکو لپاره د سترې محکمې ظرفیت لوړونې او اجراآتو د ارزونې ریاست لخوا په لاره اچول شوي وو؛ له نېکه مرغه ټول یاد روزنیز پروګرامونه د دغه ریاست او ظرفیت لوړونې او اجراآتو د ارزونې ریاست د منسوبینو ګډو او هر اړخیزو همکاریو په پایله کې په بریالیتوب ترسره شول.

## د حقوقو عمومي ریاست

د سترې محکمې حقوقو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱ـ په لومړۍ ربعه کې د حقیقي او حکمي اشخاصو د حقونو اړوند (۱۰۰۰۴۰) قطعې حقوقي عریضې ثبت او په اړه یې لازم اجراآت شوي دي.

۲ـ په لومړۍ ربعه کې (۱۶۶۹۳) حقوقي قضیې د مصالحې له لارې حل او فصل شوې دي.

۳ـ په لومړۍ ربعه کې (۱۸۴۵) قطعي او نهایي شوې فیصلې او قرارونه تطبیق شوي دي.

۴ـ په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې محترم مقام د هدایت په اساس د حقوقو عمومي رئیس او اړوند ادارو مسؤولینو ترمنځ د هغو کسانو د جلب د موضوع په اړه چې ضمانت نشي ورکولای؛ غونډه وشوه.

## د دعوت او ارشاد ریاست

د سترې محکمې دعوت او ارشاد ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱ـ په لومړۍ ربعه کې د یاد ریاست لخوا د محاکمو د منسوبینو لپاره د اصلاحي برنامو په دوام، د سهار له لمانځه وروسته د مجاهدینو او منسوبینو لپاره د قرآنکریم د تفسیر او ترجمې درسونه دوام لري، چې د ګډونوالو د دیني پوهاوي، فکري اصلاح او روحاني وده کې مهم رول لري.

۲ـ په لومړۍ ربعه کې د یاد ریاست له لوري د دیني نصاب چې په کې د اسلامي احکامو، فقهي مسائلو، شرعي لارښوونو، معاصر اسلامي فکر، عقیدوي وضاحت او اخلاقي اصلاحاتو موضوعات ځای پر ځای شوي، تدریس شوی؛ تر څو د

کارکوونکو ديني روزنه له فکري زاويې سره بشپړه شي.
۳- په لومړۍ ربعه کې د ديني اصلاح او معنوي بيدارۍ د پياوړتيا لپاره، د سترې محکمې د مرکزي محاکمو، امنيتي او اجرائيوي چارو رياست لپاره د دوشنبې او پنجشنبې په ورځو کې منظم اصلاحي بيانونه شوي، چې په ترڅ کې يې د عدالت تأمين، اداري اخلاقو او سلوک، د فساد مخنيوي، د ديني اصولو مراعات او د اسلامي نظام د تطبيق اهميت په واضحه توګه تشريح شوي.
۴- په لومړۍ ربعه کې د هغو کارکوونکو لپاره چې نالوستي يا کم سواده دي، ځانګړې ديني حلقې جوړې شوې، ترڅو اسلامي عقايد، لمونځ، روژه، زکات او نور اساسي احکام ور زده کړل شي. د ليک لوست د مهارتونو لوړولو لپاره، د اسلامي نصوصو پر بنسټ ابتدائي کورسونه پيل شوي، چې له لارې يې نالوستو کارکوونکو ته د ديني زده کړو ترڅنګ، د ليک لوست عملي زده کړه هم ورکول کېږي.
۵- په لومړۍ ربعه کې د کارکوونکو د اصلاح او اخلاقي پرمختګ په برخه کې، د سيرت، اخلاقو او اداري نظم جدي څارنه شوې، د ديني ارزښتونو پر بنسټ هغوی ته اخلاقي مشورې، سپارښتنې او د مسؤوليتونو د اداينې ترغيب ورکړل شوی، دغه راز د اسلامي اخلاقو، د اداري فساد مخنيوي او د عدالت تأمين اړوند مهم اصول، نظامي او اداري کارکوونکو ته په واضح ډول بيان شوي، څو د شرعي معيارونو پر بنسټ د نظام اصلاح تضمين شي.
۶- په لومړۍ ربعه کې د ديني زده کړو د ارزونې په موخه، ربيع الأول مياشت کې د مرکزي رياستونو د منسوبينو زده کړې ارزول شوې او څلورنيم مياشتنۍ ازموينه ترې اخيستل شوې ده.
۷- دغه راز په لومړۍ ربعه کې د سترې محمکې د محترمو شيوخ کرامو، رئيسانو، آمرينو، قاضيانو او قضائي غړو لپاره د مذاکرې په ډول درې جلسې جوړې شوې دي.
۸- په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست د محترم رئيس په مشرۍ يو پلاوي د ټول ملک د مرافعه محاکمو د کارکوونکو او هلته د دعوت او ارشاد رياست د فعاليتونو د نظارت په موخه سفر پيل کړ، چې تر اوسه يې د (۱۲) ولايتونو (باميان، دايکنډي، غور، بادغيس، هرات، فراه، نيمروز، هلمند، کندهار، روزګان، زابل او پکتيا) له مرافعه محاکمو څخه نظارت کړی او دا نظارت همداسې جريان لري، تر څو د ټولو ولايتونو نظارت وشي.

## د قضائي تفتيش عمومي رياست

د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴۷هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي:
۱. د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴۷هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې د قضائي اجراآتو د ارزونې په موخه، د فارياب، بدخشان، باميان او نورستان ولايتونو له زندانونو څخه ليدنه او نظارت ترسره کړی او د ټولو بنديانو د وضعيت او اړتياوو په اړه يې له دوی سره خبرې کړې دي.
۲. د ۱۴۴۷هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې د مرکزي او ولايتي محاکمو له اجراآتو څخه د اصحاب دعوی د شکايتونو په تړاو (۱۷۹) اقتضائي موضوعات دغه رياست ته راجع شوي، چې له دې ډلې (۱۳۷) قضيې څېړل شوې او اړوند راپورونه د سترې محکمې عالي مقام ته استول شوي دي، پاتې (۴۲) دوسيې لا هم د قضائي مفتشينو تر څېړنې لاندې دي.
۳. د ۱۴۴۷هـ ق کال د لومړۍ ربعې په جريان کې، د ولاياتو د محاکمو کلنې او ربعوار راپورونه چې د پلان او پاليسۍ رياست ته استول شوي وو، د محاکمو د عادي اجراآتو د څېړنې په ترڅ کې د قضائي مفتشينو لخوا وڅېړل شول.
٤. د ۱۴۴۷هـ ق کال د لومړۍ ربعې په جريان کې، د يو واحد قضائي سلوک او په محکمو کې د سالمو کړنو د ترسره کولو په موخه، د سترې محکمې د عالي مقام د حکمونو، اصولو، مقرراتو او تصويبونو په نظر کې نيولو سره، د فارياب، نورستان، بدخشان او باميانو ولايتونو قاضيانو او اداري کارکوونکو ته لازمې لارښوونې وشوې.
۵. د ۱۴۴۷هـ ق کال د لومړۍ ربعې په جريان کې، د قضائي او اداري منسوبينو د عادي اجراآتو د څېړنې په جريان کې چې د هغوی وړتيا، اهليت، زيار او لياقت په کې څرګند

شوي دي، د قضائي مفتشينو له طرفه په لوړ بست کې د دوی د تقرر وړانديزونه د سترې محکمې عالي مقام ته وړاندې شوي دي.

۶. د ۱۴۴۷هـ ق کال د لومړی ربعې په جريان کې، په اسلامي امارت او محاکمو باندې د خلکو اعتماد زياتولو او له مراجعينو او نورو امارتي ادارو سره د ښه چلند برخو ته جدي پاملرنه شوې او مسؤولينو ته جدي او لازمي لارښووني شوې چې د خلکو شکايتونو ته رسېدنه پر خپل وخت او د اصولو مطابق وکړي، سربېره پر دې، له هغو مراجعينو څخه چې د ستونزو د حل په موخه محاکمو ته حاضر شوي وو، معلومات هم ترلاسه شوي، ترڅو وڅېړل شي چې د محاکمو منسوبين ورسره څه ډول چلند کوي.

۷. د ۱۴۴۷هـ ق کال د لومړی ربعې په جريان کې، د يو شمېر محاکمو عادي کړنې وڅېړل شوې، ترڅو هغه قاضيان او مامورين تشخيص شي چې د صداقت، ژمنتيا او مسلکي پوهې له مخې وړتيا لري او د لا زياتو مسلکي زده کړو اړتيا لري؛ د يادو څېړنو پر بنسټ راپورونه ترتيب او د بعدي اقداماتو لپاره د سترې محکمې عالي مقام ته واستول شول، څو له مخې يې د يادو کسانو د ظرفيت لوړونې په موخه لازم تصميمونه ونيول شي.

۸. د ۱۴۴۷هـ ق کال د لومړی ربعې په جريان کې، د نورستان، باميان، فارياب، بدخشان محاکمو د قضائي او اداري مسؤولينو کړنې وڅېړل شوې، په ياده څېړنه د کمو نيمګړتياوو په صورت کې اړوند کارکوونکو ته لازمي سپارښتنې وشوې او د زياتو نيمګړتياوو راپورونه د بعدي هدايت لپاره د سترې محکمې عالي مقام ته واستول شول.

۹. د قضائي تفتيش عمومي رياست له وظايفو څخه د سترې محکمې عالي شورا مصوباتو، مقرراتو، لوايحو او طرزالعملونو دوامدار نظارت کول دي، چې د مفتيشينو لخوا په لومړی ربعه کې ياد نظارت ترسره شوی دی.

۱۰. د ۱۴۴۷هـ ق کال د لومړی ربعې په جريان کې، د قضائي مفتشينو له لوري د فارياب، باميان، بدخشان او نورستان ولايتونو د قضائي او اداري مسؤولينو عادي او اقتضائي ستونزې تشخيص او د حل په موخه يې راپور د بعدي هدايت لپاره د سترې محکمې عالي مقام ته واستول شو.

۱۱. د ۱۴۴۷هـ ق کال د لومړی ربعې په جريان کې، قضائي مفتشينو د محاکمو او استوګنې ودانيو له فزيکي وضعيت څخه ليدنه وکړه او د يو شمېر ودانيو د ترميم په هکله يې خپل راپور د بعدي هدايت لپاره د سترې محکمې عالي مقام ته واستوو.

## د کارکوونکو چارو عمومي رياست

د سترې محکمې د کارکوونکو چارو عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړی ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱. د سترې محکمې (۱۱۷۵) نظامي، قضائي، اداري او خدماتي کارکوونکو ته د پېژندنې کارتونه ترتيب او چاپ شوي دي.

۲. د کارکوونکو چارو عمومي رياست اړوند ډېټابيس کې تقريبا د (۹۰۰) قضائي، اداري او خدماتي کارکوونکو د ګمارنې، انفکاک، انفصال، عزل او تبديلې پ۲ ګانې معامله شوې او د (۳۸۷) قضائي، اداري او خدماتي کارکوونکو د خدمت موده تثبيت شوې ده.

۳. د چارو اداري لوی رياست اړوند د ملکي خدماتو ادارې د ملکي خدماتو انستيتيوت د قوانينو، فرامينو او اداري مراسلاتو سيمينار ته يو تن معرفي شوی، دغه راز د حج او اوقافو اړوند د تدريب الأئمه رياست ته د عربي ژبې د زده کړې په موخه (۵) تنه معرفي شوي دي.

٤. د سترې محکمې د محافظتي قطعې د منسوبينو د تعليمي سويې د لوړوالي په موخه، درې (۳) تعليمي ټولګي د تخنيکي او مسلکي تعليماتو ادارې په تخنيکي مرسته او همغږۍ، د سترې محکمې په روزنيز مرکز او د سترې محکمې په امنيتي او اجرائيوي چارو رياست کې جوړ او لا هم دوام لري.

۵. د سترې محکمې اړوند ملکي منسوبينو ته (۳۱) برنامې (د محاکمو د اداري سيستم اساسي مهارتونو اړوند (۵) برنامې، د اداري مراسلاتو اړوند (۵) برنامې، د پلان جوړونې اساساتو اړوند (۵) برنامې، د وثايقو د تحرير په برخه کې د زده کړې

(۵) برنامې، د مسلکي او مدیریتي رفتار او سلوک اړوند (۵) برنامې، د ارتباط، مدیریت او راپور لیکنې اړوند (۱) برنامه، د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د اجراآتو د ارزونې اړوند زده کړو (۵) برنامې) جوړې شوې دي.

۶. د ملکي کارکوونکو د نظارت او ارزونې د خبرتیا مکتوبونه استول، د نظارتي جدولونو ترتیب، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو له استازي سره همږغي کول، د مرکزي ریاستونو او ولایتي مرافعه محاکمو څخه د فورمونو راټولول او بررسي، د نهایي نتایجو منظوري اخیستل او د استخدام او سوانحو ریاست ته استول.

۷. د افغانستان اسلامي امارت د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) عالي مقام د (۳۳۷) ګڼې، ۱۴۴۷/۲/۸هـ ق نېټې حکم پر اساس د لغمان ولایت د فراشغان او د فاریاب د فردوس جدید التأسیس ولسوالیو لپاره (۶)قضائي، (۴) اداري او (۲) خدماتي منسوبینو تشکیل منظور شوی دی، دغه راز د نوموړو ولسوالیو د محکمو د امنیت په موخه د (۱۲) امنیتي منسوبینو تشکیل او همدارنګه د یاد حکم پر اساس د دایکنډي ولایت نظامي محکمې څانګې د امنیت ساتلو په موخه د (۳۱) امنیتي منسوبینو تشکیل هم منظور شوی دی، د یادو تشکیلونو ساختار او ډېټابیس ترتیب او اړوند ادارو او ریاستونو ته د خبرتیا په موخه رسماً استول شوی دی.

۸. د افغانستان اسلامي امارت د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) عالي مقام د (۴۱۲) ګڼې، ۱۴۴۷/۲/۲هـ ق نېټې حکم پر اساس د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست په تشکیل کې (۹۸۸) امنیتي منسوبین منظور شوي، د یاد ریاست تشکیل په (۲) جلدونو کې ترتیب او د نورو اجراآتو ترسره کولو په موخه د چارو اداري لوی ریاست ته رسماً استول شوی دی.

۹. د سترې محکمې د کارکوونکو د مسلکي او مدیریتي پوهې د کچې د لوړولو په موخه، د روزنیزو سیمینارونو لاربنود ترتیب شوی. په پام کې ده چې د یاد لاربنود له مخې روزنیز پروګرامونه ډېر ژر د مالي او تخنیکي امکاناتو او موجودو اسانتیاوو له مخې په مرکز او ولایتونو کې پیل شي.

۱۰. د حقوقو محترم عمومي ریاست اړوند کاري اسناد چې په مرکز او ولایاتو کې ترې په ورځنیو کارونو کې استفاده کوي [د حقوقي دوسیو د اندراج او ثبت کتابونه، د عرایضو د ثبت او اجراآتو کتابونه، جلب‌پاڼه او د هغه د ثبت کتاب، اصلاح خط او د هغه د ثبت کتاب، ضمانت خط] تصویب او نهایي شول او د سترې محکمې عالي مقام له خوا تائید شول.

## د مالي او اداري چارو عمومي ریاست

د سترې محکمې مالي او اداري چارو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱. په لومړۍ ربعه کې د یاد ریاست لخوا د قضائي زده کړو عمومي ریاست کې د ټاکل شوي هیئت په وړاندې (۳۶) عرادې وسایطو د لیلام اسناد د ریاست الوزراء عالي مقام له منظورۍ وروسته ترتیب او یاد وسایط لیلام ته وړاندې شول.

۲. په لومړۍ ربعه کې د مالیې وزارت د متحدالمآل او د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) د فرمان پر اساس، (۱۰۴) قضائي، اداري او خدماتي منسوبین چې د تقاعد مستحق وو؛ د اته سلنه تقاعد سهمیه ورکړل شوه.

۳. په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې او د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د روغتیایي کلینیکونو لخوا (۳۲۸۲) مجاهدینو او اداري کارکوونکو ته د لابراتواري معایناتو، زرقیاتو، سیروم، اکسیجن تراپي او زړه ګراف په برخو کې طبي خدمات وړاندې شوي دي.

٤. په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې د اړتیا وړ (۵۸۵) قطعې معاشونه او مصرفي حوالې اجرا او مالیې وزارت ته لېږل شوي دي.

۵. په لومړۍ ربعه کې د ساختماني چارو په برخه کې د کابل ولایت د اوومې حوزې اړوند د وثایقو ودانۍ د اساسي جوړښت او د ابتدائیه محاکمو ګڼ شمېر ودانیزې پروژې تطبیق او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې؛ چې په کې د فلزي الماریو او زرهي دروازو جوړول، د سولري انرژۍ سیستمونه، د موټرو تم ځایونه، د اوبو رسونې سیستمونو جوړول،

د جومات او نورو لازمو ودانیو جوړول، د ځنباك اوبو د تصفیې خونې، د ژورې څاه کېندل او د قاضیانو استوګنې کورونه شامل دي.

## د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست

د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱ـ په لومړۍ ربعه کې د هغه وړاندیز په اساس چې د کابل ښاروالۍ عمومي ریاست ته د تعلیمي مرکز میدان د جوړولو په موخه شوی و؛ د یاد ریاست له لوري یې سل سلنه کار بشپړ شوی.

۲ـ په لومړۍ ربعه کې د ملکي محاکمو امنیتي قطعاتو قوماندانۍ اړوند نیمه کاره تعمیراتو دېرش ۳۰ سلنه چارې بشپړې شوې دي.

۳ـ په لومړۍ ربعه کې د اجناسو د ساتنې په موخه (۱۴) کانټینرونه خریداري او اکمال شوي.

۴ـ په لومړۍ ربعه کې د یاد ریاست او اړوند جزوتامونو د نظامي پرسونل یونیفورم د ګنډلو چارې بشپړې او د توزیع بهیر یې روان دی.

۵ـ په لومړۍ ربعه کې د یاد ریاست کاري طرزالعمل د تاکل شوي هیئت له لوري ترتیب او د اصلاح په موخه د یاد ریاست رئیس سره شریک شوی، چې وروسته به د سترې محکمې عالي مقام ته وړاندې شي.

۶ـ په لومړۍ ربعه کې د ملکي محاکمو امنیتي قطعاتو قوماندانۍ اړوند نیمه کاره تعمیراتو (۹۵) سلنه چارې بشپړې شوې او په نږدې راتلونکې کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

۷ـ په لومړۍ ربعه کې د (٦) قلمه اجناسو قرارداد د سترې محکمې عالي مقام له لوري د توظیف شوي هیئت له لوري تائید او نهائي شوی.

۸ـ په لومړۍ ربعه کې د یاد ریاست اړوند مرکزي او ولایتي نظامي پرسونل ته د دوه میاشتنۍ مسلکي او نظامي معسکراتي زده کړې پنځه دورې ورکړل شوې.

۹ـ په لومړۍ ربعه کې د یاد ریاست اداري کارکوونکو ته د مسلکي پرمختګ او ظرفیت لوړونې په موخه، یو (۱۵) ورځنۍ عملي روزنیز سیمینار ورکړل شوی او د یاد ریاست په ګډون د نظامي او ملکي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو قوماندانیو پرسونل ته د تخنیکي او مسلکي نیمه زده کړو ترسره کولو په موخه د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې سره په تفاهم په دریو ټولګیو کې ترتیب او درسونه یې په منظم ډول جریان لري.

۱۰ـ په لومړۍ ربعه کې د ملکي او نظامي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو قوماندانیو څخه نظارت او ارزونه شوې او د اداري ستونزو د حل په موخه د همغږۍ غونډې شوي دي.

۱۱ـ په لومړۍ ربعه کې د (۱٦۰۵۸۷) لیتره پطرول او ډیزل تیل، (۸۰۰۳) کیلو مایع ګاز او (۹۲۳) کواټره مبلایل د مرکز، ولایاتو او اتو زونونو امنیتي قطعاتو ته اکمال او توزیع شوي.

۱۲ـ په لومړۍ ربعه کې د (٦۰۰) قلمه مفروشاتي، محروقاتي او تعمیراتي اجناس د یاد ریاست اړوند د ملکي او نظامي محاکمو د قطعاتو قوماندانیو ته توزیع شوي.

۱۳ـ دغه راز د یاد ریاست اړوند د ملکي محاکمو امنیتي قطعاتو قوماندانۍ او د نظامي محاکمو امنیتي قطعاتو قوماندانۍ په جزوتامونو کې د مجاهدینو تقرر په افسرۍ، ساتنمنۍ او ساتونکو بستونو کې د لیاقت، وړتیا او کادري فورم په اساس ترسره کېږي.

۱۴ـ په لومړۍ ربعه کې د نظامي محاکمو د حکمونو په اساس (۱۱٦۳) مجرمین محبسونو ته لېږل شوي دي.

۱۵ـ په لومړۍ ربعه کې (۲۲٦) قلمه البسوي او قرطاسیوي توکي وېشل شوي دي.

۱٦ـ په لومړۍ ربعه کې (۱۵۴) کسانو نوي مقرر، (۸۵) کسانو ته کشفي استعلامونه او (۱۸۰) تنه د (افسرانو، ساتنمنانو او ساتونکو) په بستونو کې منفک شوي.

۱۷ـ په لومړۍ ربعه کې (۱۳۳) تنو ته تقاعد حواله شوی او (۲) تنو ته اکرامیه حواله شوي.

۱۵ـ په لومړۍ ربعه کې (۸۲) مخابرې او وسایل ترمیم، تنظیم او پروګرام شوي او د (E1) سیستم جوړ شوی دی.

۱۸ـ په لومړۍ ربعه کې (۳۴۵) قضائي غونډې د نشه يي توکو پر وړاندي د مبارزې محکمې لخوا ترسره شوي.
۱۹ـ د قضائي ستاژ د قضاتو امنيتي بلوک قوماندانۍ کې (۵۰۰) تنه قضائي شعبو اداري کارکوونکو ته اداري سيمينار لپاره امنيت په بشپړ ډول تامين شوی.
۲۰ـ په لومړۍ ربعه کې د نظامي محاکمو د حکم پر اساس (۳۷۵۸) جلبونه لېږل شوي او (۳۹۹۳) تنه مجلوبين د تليفوني اړيکو له لارې جلب او د نظامي پرسونل لخوا حاضر شوي.
۲۱ـ په لومړۍ ربعه کې (۵۰۷۵۱) تنه مراجعين ثبت او امنيت يې خوندي شوی.

## د پلان او پاليسۍ رياست

د سترې محکمې د پلان او پاليسۍ رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه سرته رسولي دي:
۱ـ په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې د مرکزي رياستونو اړوند د ۱۴۴۷هـ ق کال د لومړۍ ربعې د پلاني او غير پلاني فعاليتونو راپور ترتيب او اړونده مراجعو ته ولېږل شو.
۲ـ په لومړۍ ربعه کې د پلان مطابق له دوهمو واحدونو څخه د مياشتني راپور راټولولو لړۍ د ۳۴ ولايتونو مرافعه محاکمو څخه په دوامداره توګه جريان لري؛ چې راپورونه يې تر توحيد وروسته اداري معاونيت، قضائي تفتيش عمومي رياست او د کارکوونکو چارو عمومي رياست ته د بعدي اجراآتو لپاره لېږل شوي؛ همداراز د ۱۴۴۶هـ ق کال د څلورمې ربعې اړوند د ميراث او ملکيت حق ته د ښځو د لاسرسي اختصاصي ربعوار راپور ترتيب او د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکاياتو اورېدو وزارت، د چارو اداري لوی رياست، د سترې محکمې عالي مقام د دفتر لوی رياست او د سترې محکمې اداري معاونيت ته لېږل شوی.
۳ـ په لومړۍ ربعه کې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د څلورمې ربعې اړوند احصائيوي فورمونه تر ډکولو وروسته د احصائيې ملي اداري ته لېږل شوي.
۴ـ په لومړۍ ربعه کې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست د غوښتنې په اساس د ۱۴۴۶ هـ ق کال د څلورمې ربعې د مرکزي رياستونو د فعاليتونو راپور ترتيب، توحيد او په قضاء مجله کې د چاپ او نشر په موخه ور ولېږل شو.
۵ـ په لومړۍ ربعه کې د ۳۴ ولايتونو د مرافعه محاکمو د ۱۴۰۴هـ ش کال د دويمې ربعې (سرطان، اسد او سنبلې مياشتو) د حاضرۍ راپور ترتيب او اړوند مراجعو ته ولېږل شو.
۶ـ په لومړۍ ربعه کې د يو کلن پلان مطابق د مرکزي رياستونو د ۱۴۴۷هـ ق کال د لومړۍ ربعې د پلاني او غير پلاني فعاليتونه راپور ترتيب او د چارو اداري لوی رياست ته ولېږل شو.
۷ـ په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې د مرکزي رياستونو د ۱۴۰۴ هـ ش کال د لومړۍ او دويمې ربعې له فعاليتونو څخه د نظارت او ارزونې لپاره چک لېستونو ترتيب او اړوند رياستونو ته لېږل شوي، چې د پايلو تر را ټولولو وروسته به يې راپور د سترې محکمې له عالي مقام سره شريک شي.
۸ـ په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې د کلني پلان له مخې د پاليسيو، طرزالعملونو، لارښوونو او موجوده اړينو ميکانيزمونو د معلوماتو راټولولو لپاره پوښتنليکونه ترتيب شول.
۹ـ په لومړۍ ربعه کې د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې لپاره د پلان مطابق د مرکزي رياستونو د اداري فعاليتونو د څارنې پروسه په حضوري ډول پيل شوې او د اوومې حوزې د وثايقو محاکمو لپاره د بلاک جوړولو له پروژې، د سترې محکمې د محاکمو د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست په احاطه کې د دوه منزله تعمير د ترميم له پروژې، د قضائي زده کړو په عمومي رياست کې د مسجد شريف د جوړولو له پروژې، د وثايقو په محاکمو کې د دفترونو د جوړولو له پروژې، د کابل ولايت په ښاري ابتدائيه محکمه کې د فلزي قفسچو جوړولو له پروژې، د کابل ولايت په مرافعه محکمه کې د تجارتي

دېوان مجاهدینو ته د یو باب اطاق او اشپزخانې جوړولو له پروژې څخه ځارنه ترسره شوې ده.

۱۰- په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې له دېوانونو، د (۳۴) ولایتونو د مرافعه او ابتدائیه محاکمو د ۱۴۴۶ هـ ق کال څلورمې ربعې د قضائي اجراآتو اړوند راپور ترتیب او د سترې محکمې د عالي مقام د دفتر لوی ریاست، د مرکزي او جنوب غرب زون د تفتیش عالي ریاستونو، د مرکزي او جنوب غرب زون قضائي معاونیتونو، اداري معاونیت، نظامي معاونیت او د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست ته ولېږل شو.

۱۱- په لومړۍ ربعه کې د (۳۴) ولایتونو د محاکمو د ۱۴۴۶ هـ ق کال څلورمې ربعې د قضائي اجراآتو راپور ترتیب او د مالي او اداري چارو لوی ریاست ته ولېږل شو.

۱۲- په لومړۍ ربعه کې د اسلامي امارت له فتحې څخه وروسته د ۱۴۴۶هـ ق کال تر پای پورې د پیسو د مینځلو، مالیاتي جرایمو او نشه‌یي توکو اړوند موضوعاتو ته د رسېدنې راپور ترتیب او د سترې محکمې عالي شورا او د دارالانشاء لوی ریاست ته ولېږل شو.

۱۳- په لومړۍ ربعه کې د کابل ولایت د مرافعه محکمې د اړتیا وړ (۴) قلمه خوراکي موادو او د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د اړتیا وړ (۴) قلمه البسې د تدارک دوسیې ارزیابي شوې؛ چې د سترې محکمې عالي مقام تر منظورۍ وروسته د تدارکاتو آمریت ته وسپارل شوې.

۱۴- په لومړۍ ربعه کې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) او ریاست الوزراء عالي مقام د (۵۴) قطعي احکامو اړوند راپورونه ترتیب شوي؛ له دې جملې څخه (۱۰) راپورونه د چارو اداري لوی ریاست او (۴۴) نور راپورونه د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست ته لېږل شوي دي.

۱۵- په لومړۍ ربعه کې د ریاست الوزراء عالي مقام د هدایاتو اړوند (۳) قطعي راپورونه ارائیه شوي دي.

۱۶- په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې په قضائي او اداري برخو کې له مهرونو څخه د استفادې طرزالعمل مسوده تدوین او د تدقیقي نظر وړاندې کولو په موخه د تدقیق او مطالعاتو لوی ریاست ته ولېږل شوه.

## د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست :

د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه سرته رسولي دي:

۱- په لومړۍ ربعه کې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي تدقیق ریاست د (۳۳۸) جزائي، مدني، تجارتي، وثایقو، متفرقه استهداآتو، قضائي پلټنې عمومي ریاست راپورونو، عارضینو د عرایضو، مکتوبي او مستردي استهدائي موضوعاتو په تړاو تدقیقي نظرونه وړاندې کړي دي.

۲- په لومړۍ ربعه کې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو ریاست د اسلامي امارت د بین الحکومتي شورا کاسا زر (۱۰۰۰) انتقالي لین د پروژې د هوکړې مسوده د قضائي مدققینو تر غور او تحقیق لاندې ونیول شوه؛ په اړه یې شرعي نظر ترتیب او د بعدي اجراآتو په موخه د سترې محکمې عالي مقام ته ولېږل شوه.

۳- په لومړۍ ربعه کې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو ریاست د اسلامي امارت د لاجوردو د لارې د اوسپنې پټلۍ د لېږد را لېږد د پروتوکول مسودې هوکړه لیک د قضائي مدققینو تر غور او تحقیق لاندې ونیول شو؛ په اړه یې شرعي نظر ترتیب او د بعدي اجراآتو په موخه د سترې محکمې عالي مقام ته ولېږل شو.

۴- په لومړۍ ربعه کې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو ریاست د اسلامي امارت د کابل پوهنتون او د ایران د فرهنګ او اړیکو سازمان ترمنځ د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د دري ډیپارټمنټ

د نیمه کار بشپړولو په موخه د همکارۍ د هوکړې یادښت د قضائي مدققینو تر غور او تحقیق لاندې ونیول شو؛ په اړه یې شرعي نظر ترتیب او د بعدي اجراآتو په موخه د سترې محکمې عالي مقام ته ولېږل شو.

۵ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو ریاست قضائي مدققینو د سترې محکمې د جزاء دېوان د فعالیتونو او اجراآتو د تنظیم کړنلاره د قوانینو په چوکاټ کې ترتیب او د تصویب په موخه د سترې محکمې عالي شورا ته وړاندې شوه.

۶ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو ریاست د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) د (۴۶۲-۴۵۸۶) ګڼې او ۱۴۴۷/۸/۴ هـ ق نېټې حکم په اساس، قضائي مدققینو د صلحې طرزالعمل ترتیب، تنظیم او د هرې مادې شرعي تخریج یې وکړ او د بعدي اجراآتو په موخه د سترې محکمې عالي شورا ته وړاندې شو.

۷ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو ریاست د اسلامي امارت د علومو اکاډمۍ او د ایران د ملي کتابتون ترمنځ د همکارۍ د هوکړې یادښت د قضائي مدققینو له غور او تحقیق وروسته په اړه شرعي نظر ترتیب او د وروستیو اجراآتو په موخه د سترې محکمې عالي مقام سره شریک شو.

۸ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو ریاست د اسلامي امارت د لاجوردو لارې د هوکړه لیک په اساس د صدور په بهیر کې د اسانتیاوو رامنځته کولو د پروتوکول مسوده د قضائي مدققینو له غور او تحقیق وروسته په اړه شرعي نظر ترتیب او د وروستیو اجراآتو په موخه د سترې محکمې عالي مقام سره شریک شو.

۹ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو ریاست د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) د (۱۶۶۱-۶۳۴۶) ګڼې د ۱۴۴۶/۱۱/۱۴ هـ ق نېټې حکم او د سترې محکمې عالي مقام د لارښوونې په اساس د مرکزي زون نظامي محکمې د اداري فساد قضیو ته د رسېدنې طرزالعمل کتاب ترتیب، تنظیم او د سترې محکمې عالي شورا ته د تصویب په موخه وړاندې شو.

۱۰ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو ریاست د سترې محکمې عالي مقام د ۱۴۴۶هـ ق کال د رمضان المبارک د مشورتي غونډې څلورمې پرېکړې دویم جز د هدایت په اساس قضائي مدققینو د (ید حادثه او ید قدیمه) صورتونه په تفصیلي ډول واضح او ماده وار شکل د ترتیب او تحریر وروسته د سترې محکمې عالي شورا ته د تصویب په موخه وړاندې کړل.

۱۱ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو ریاست د سترې محکمې عالي مقام د حکم په اساس د قضائي تدقیق ریاست غړو تر فتحې وروسته؛ د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست لخوا محاکمو ته د لېږل شویو ټولو متحدالمآلونو شرعي تخریج وکړ او د کتاب په بڼه یې ترتیب او د سترې محکمې محترم عالي مقام ته یې وړاندې کړ.

د یادونې وړ ده چې یاد عمومي ریاست د ټولو بهرنیو هوکړه لیکونو په اړه هم له غور او تحقیق وروسته خپل نظرونه د سترې محکمې له عالي مقام سره شریک کړي دي.

## د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال لومړی ربع راپور

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د بهرنیو اړیکو آمریت | ۱. په لومړۍ ربعه کې ازبیکستان ملک ته د موټرو په نندارتون کې د ګډون په موخه د سترې محکمې د مسؤولینو سفر تنظیم شوی دی.<br>۲. په لومړۍ ربعه کې د جزائي، حقوقي، فامیلي، جنائي، د تذکرې ثبت محفوظ او د بهرنیو اتباعو د پاسپورټ، د بهرنیو اتباعو نکاح خط د ثبت محفوظ، له بهرنیو ملکونو څخه د افغانانو د جلب، د سترې محکمې منسوبینو ته سیاحتي پاسپورټونو، مجرمینو د استرداد، تدقیقي نظرونونو، د بهرنیو ترافیکو، د بهرني وکالت خطونو د ثبت محفوظ، د داخلي او بهرنیو ادارو د امضاء د نمونو، مسترد شویو موضوعاتو، وثایقو، افغاني پاسپورټونو د ثبت محفوظ، د افغاني اتباعو د ممنوع الخروج، د افغاني اتباعو د مدني حالت، د محاکمو قرارونه او فیصلو لیکونه د ثبت محفوظ، د جایدادونو د غصب غوښتنې او د بهرنیو ادارو د تجدید نظر اړوند د (۲۳۶) مکتوبونو په اړه اجراآت شوي دي. |

| | | |
|---|---|---|
| | | په لومړۍ ربعه کې:<br>۳. د قضاء او ولس (٤) خپرونې، ثبت، جوړې او د سترې محکمې د رسمي آدرسونو له لارې نشر شوې دي؛<br>۴. د قضاء مجلې دوې ګڼې (نهمه او لسمه) ترتیب، ډیزاین، چاپ او په مرکز او ولایتونو کې تکثیر شوې دي؛<br>۵.د میزان جریدې ۹ ګڼې (له ۱۰۳ ګڼې څخه ۱۱۱ مې ګڼې) چاپ او په مرکز او ولایتونو کې تکثیر شوې دي؛<br>٦. د ملک د محاکمو د فعالیتونو د ښه انعکاس او پر محاکمو د خلکو د باور زیاتېدو په موخه (٤٦٢) خبرونه ترتیب او نشر شوي دي؛<br>۷. د هجري قمري میاشتې مطابق د محاکمو او نورو امارتي ادارو د اداري اجراآتو د ترتیب په موخه د رؤیت هلال هیئت (۳) خبرتیاوې ترتیب، ډیزاین او نشر شوې دي؛<br>۸. د محاکمو د قضائي فعالیتونو اړوند (۷۷) انفوګرافیک جوړ، ډیزاین او د سترې محکمې د رسمي آدرسونو له لارې نشر شوي دي؛<br>۹. د ملک د محاکمو د فعالیتونو د ښه انعکاس او پر محاکمو د خلکو د باور زیاتېدو په موخه د «ستره محکمه په اونۍ کې» (۴۸) خپرونې په څلورو ژبو ثبت، جوړې او نشر شوې دي؛<br>۱۰. د سترې محکمې اړوند مسؤولینو امارتي او شخصي موټرو ته (۱۲۷) قطعې کارتونه ترتیب او توزیع شوي دي؛<br>۱۱. د ۱۴۴۷هـ ق کال د (۳) میاشتو کالیزه ترتیب، ډیزاین د سترې محکمې پر رسمي آدرسونو نشر شوې ده؛<br>۱۲. د ورځنۍ نېټې (۹۰) ډیزاینونه جوړ او د سترې محکمې پر رسمي آدرسونو نشر شوي دي؛<br>۱۳. د سترې محکمې د محترم رئیس او قاضي‌القضات شیخ صاحب (۸) جلده (سراج الاحکام) کتاب ډیزاین او چاپ ته لېږل شوی دی؛<br>۱۴. له رسنیو سره پوره همغږي شوې ده؛<br>۱۵. د اسلامي عدالت (۲) خپرونې ترتیب، ایډیت او نشر شوې دي؛<br>۱٦. د قضاء کتابتون د کتابونو (٤۲) لېستونه ترتیب او ډیزاین شوي دي؛<br>۱۷. د ۳۳ ولایتونو د محاکمو اداري کارکوونکو ته د خبر جوړولو اړوند روزنیز سیمینار ورکړل شوی دی؛<br>۱۸. د سترې محکمې او ماتحت محاکمو د ۱٤٤٦هـ ق کال د فعالیتونو راپور ایډیت، ډیزاین او نشر شوی دی؛ | د فرهنګي او مطبوعاتي چارو چارو آمریت | ۲ |

| | | |
|---|---|---|
| ۳ | د طباعتي او نشراتي آمریت | ۱۹. په لومړۍ ربعه کې قانون امیري، فهرست خط نسخ لومړی او دوهم جلد، تحفة العلماء، اساس القضات، کشف الحقائق، مغتنم الحصول، فتاوای احمد شاهي، سراج الاحکام، منح الغفار، مکانة الامام ابي حنیفه، احکام السلطانیة، مجاهد افغان، تاریخ افغانستان، سراج ارکان الاسلام او فصول العمادي کتابونه او (۱۰۰۰) قطعې د محررینو د پنځه ورځني سیمینار تصدیق پاڼې، د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو او محافظتي قطعې لپاره (۱٤) جلده د متحدالمآلونو کتابونه، (۳۰۰۰) د کلینیک نسخې، (۱۸) جلده قوانین، (۲۳۳) بستې د داخلېدو او وتلو ټکټونه، (۳۰) جلده اصولنامې، (٤۷۸) جلده د قضاء کتابتون کتابونه او (۹۰۰) جلده قوانین، د متحدالمآلونو کتابونه، درسي نصابونه، د قضاتو او اداري کارکوونکو دوسيې چاپ، صحافت او توزیع شوي دي.<br>۲۰. په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې د یو شمېر مرکزي ریاستونو/دېوانونو محافظتي قطعې لپاره د اړتیا وړ (۷۷۳۳۵) پاڼې فوتوکاپي شوې دي.<br>۲۱. په دې موده کې، د میزان جریدې له (۹) ګڼو (له ۱۰۳ ګڼه تر ۱۱۱) ګڼې ګڼه، ټولټال (۱۳۵۰۰) نسخې د (۱۵۰۰) مکتوبونو له لارې، د سترې محکمې د تحریر پلاوي له تائید او کتنې وروسته چاپ او اړوند ادارو (د سترې محکمې مرکزي ریاستونو، مرافعه، ښاري ابتدائیه او ولسوالیو ابتدائیه محاکمو، ټولو وزارتونو، خپلواکو ادارو، علمي مرکزونو، د هر ولایت د مقام دفتر، د هر ولایت اطلاعات او کلتور ریاست، په هر ولایت کې د عدلیې ریاست) ته توزیع شوي دي.<br>۲۲. همداراز، په همدې موده کې، د قضاء مجلې (۸ او ۹) ګڼې چې ټولټال (٤۰۰۰) جلده، مکتوبونو له لارې، د سترې محکمې د تحریر پلاوي له تائید او کتنې وروسته چاپ او اړوند ادارو (د سترې محکمې مرکزي ریاستونو، مرافعه، ښاري ابتدائیه او ولسوالیو ابتدائیه محاکمو، ټولو وزارتونو، خپلواکو ادارو، علمي مرکزونو، د هر ولایت د مقام دفتر، د هر ولایت اطلاعات او کلتور ریاست، په هر ولایت کې د عدلیې ریاست) ته توزیع شوې دي.<br>۲۳. په لومړۍ ربعه کې د محاکمو (۱۳۷) عنوانه راپورونه، (۱۳۱) د حقوقو عمومي ریاست د محکوم له د عدم حضور خبرتیاوې قید وارده شوي دي. |
| ٤ | د کتابتون عمومي مدیریت | ۲۴. په لومړۍ ربعه کې (۹۰) جلده کتابونه چې مراجعینو د مطالعې په موخه له ځان سره وړي وو؛ بېرته قضاء کتابتون ته راوړل شوي او د کتابتون د مؤظف کس لخوا ترې بېرته تسلیمي اخیستل شوې.<br>۲۵. (۱۱۱) جلده کتابونه د امانت په ډول متقاضیانو ته ورکړل شوي دي.<br>۲۶. د (۲۰) جلده کتابونو موده تمدید شوې ده.<br>۲۷. د هغو قضائي غړو او اداري کارکوونکو د علم خبر(۱۷) پاڼې تصدیق شوې چې له یوې ادارې څخه بلې ادارې ته تبدیل او یا هم منفک شوي دي.<br>۲۸. د کتابونو د لا ښه نظم په موخه ټول کتابونه د ابجد حروفو په اساس په الماریو کې تنظیم شوي. |




**« زاد المحافل في شرح الشمائل» کتاب چاپ شو!**

د ستري محکمې د رئیس او قاضي‌القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب ارزښتمن علمي تألیف، د « زادُ المحافل» په نوم د لوستونکو د استفادې په موخه دوهم ځل په ښه اعلی کمپوز او ښکلي ډیزاین سره چاپ شو.

دغه کتاب د شمائلُ النبي صلی الله علیه وسلم پر مشهور اثر (جامع الترمذي) مفصل او مستنده شرحه ده، چې په یاد اثر کې د پخوانیو معتمدو شروحاتو او حواشیو څخه ژوره استفاده شوې؛ د سیرت له ګڼو معتبره کتابونو څخه مطالب په دقیقه توګه راغونډ شوي؛ په لنډ ډول لوستونکو ته یو داسې جامع او مستند اثر وړاندې کېږي، چې د نبوي شمائل، ظاهري او باطني اوصاف په ډېره ښه توګه وړاندې کوي.

ټول کتاب پلورنځیو مسؤولین کولای شي، چې د «زادُ المحافل في شرح الشمائل »کتاب د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست څخه په مناسب قیمت ترلاسه کړي.

د اړیکو شمېره: ۰۲۰۲۳۰۰۳٦١

او عام اهل ذوق د مطالعې خاوندان یې کولای شي، چې د هر ولایت په مشهوره کتاب پلورنځی کې ترلاسه کړي.

# Qaza

**Sharia - Judicial - legal**
**Three monthly Journal**







@supremeCourt_af
supremecourt.gov.af
publications.sc1443@gmail.com
د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه
Supreme Court of Afghanistan
2302263_2300361

د بهرنیو عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست